11/4/2024

# شیندلي ملغلري

داکتر ابراهیم شینواري له فیسبوک پاڼې څخه راخیستل شویو لیکنو

Ketabton.com

لیکنه: ډاکټر ابراهیم شینواری

ترتیب او راټولونه: اجمل هیوادمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

■■■■■■■■■■■

❖ که وخت او حوصله لرئ، د ابن خلدون مقدمه یو ځل ولولئ:

عبدالرحمن ابن خلدون ته غربیان د نوې ټولنپوهنې موسس وايي. این خلدون د دولتونو د رامنځ ته کیدو، اعتلاء، کمزورۍ، اضمحلال او سقوط عوامل په ډېر دقت څېړلي دي، چې نوي نسل ته پرې پوهیدل مهم دي.ځینې علماء فکر کوي چې مسلمانان بدمرغه وو چې ابن خلدون په ښه وخت کې نه و زیږیدلی.
متاسفانه ابن خلدون په داسې وخت کې نړۍ ته راغی چې مسلمانان مخ پر ځوړ روان وو. که تر دې څو لسیزې مخکي زیږیدلی وای او دا کتاب یې لیکلی وای نو مسلمانان به دومره پر ځوړ نه تلل.25 کاله مخکې د یوې بهرنۍ موسسې یو کارکوونکي راته ویلي وو چې اروپا له ابن خلدون څخه زده کړې ده چې څنګه په خپلو هیوادونو کې عدالت تأمین او متوازن انکشاف عملي کړي چې نظامونه یې له سقوطه بچ شي. باید د دې او دې ته ورته کتابونو څخه یې زده کړو چې څنګه خپل نظامونه او دولتونه پیاوړي کړو، عدالت قایم کړو، متوازن انکشاف

راولو او خپل هیواد اعتلاء او لوړتیا ته ورسوو چې ولس مو آرام، بریالی او نیکمرغه شي.

■■■■■■■■

❖ د بدنیتو، بې ادبو او ناخبره انسانانو توهین، سپکاوی او بې ادبي زموږ د محبوب پیغمبر صلی الله علیه و سلم مقام نور هم لوړوي. دا سلسله د انحضرت د نبوت له لومړۍ ورځې تر ننه دوام لري، خو رسول کریم صلی الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

عليه و سلم تل رحمت للعالمين و، دی او تر قيامته به وي.

■■■■■■■■■

❖ انسان د فطرت له مخې خيرخواه دی که شرير؟

انسان د فطرت له مخې خيرخواه دی، شرير نه دی. خو د خپل مصئوونيت د لاسه ورکولو له امله ويرې سره مخ کيږي او دغه ويره يې انحراف ته مجبوروي او په شرير موجود بدليږي. همدارنګه هغه غريزې چې فطرتاً د ده په بدن کې د دفاع لپاره دي په تعرضي غريزو بدليږي او بيا نورو ته ضرر رسوي.

■■■■■■■■■■■

❖ په وروستيو پيړيو کې د غربي فيلسوفانو، سياست پوهانو او ساينس پوهانو ځينو نظرياتو سياسيونو ته دا زمينه جوړه کړه چې سل ميليونه انسانان ووژني. دا د يوې پيړۍ وژنې تر هغو ټولو وژنو زياتې دي چې تر هغه مخکې په نولسو پيړيو کې شوې وې.داروين د بيولوژيکي فوسيلونو له کتنې او عملي ميندنو په پای کې دې نتيجې ته ورسيد چې د ژونديو موجوداتو تکامل د طبيعي انتخاب پروسې له مخې کيږي يعنې تر ټولو تکړه او قوي ژوندي موجودات کولی شي دوام وکړي او کمزوري موجودات له منځه ځي. د داروين د تکامل لپاره د طبيعي انتحاب له دې تيورۍ ځينې سياسي، اقتصادي او تولنيزې نظريې راووتې. دغو نظرياتو امپرياليزم، نژادپالنې، ايوجينيک او ټولنيزې نابرابرۍ ته منطق او استدلال جوړ کړ چې په نړۍ کې د لويو او ورانوونکو جګړو سبب شوې. پخوا هم جګړې وې خو په دې پيمانه او شدت نه وې. داروين د خپلې تيورۍ له مخې په ټولنيزو موضوعاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تبصره نه وه کړي خو د سپینسر، مالتوس، ویلیام ګراهم سومینز، ګالتون او نورو ټولنپوهانو او فیلسوفانو په ټولنیزو نظریو یې اثر وکړ او دوی یې په دې ډاډه کړل چې هغوی چې په طبیعي ډول تکړه انسانان دي پانګه او علم تر لاسه کوي او هغوی چې په طبیعي ډول کمزوري دي، نه شي تر لاسه کولی. په دوی کې ځینو لا حتی دومره زیاتی وکړ چې د هغو خیریه موسسو او دولتونو کارونه یې هم وغندل چې له بېوزلو، معلولو او اړو انسانانو سره مرستې کوي. دوی وویل چې دا خیریه کارونه د تکامل پروسه ځنډنۍ کوي.هابز وویل چې انسان فطرتاً شریر دی خو د نورو د انتقام له ویرې او ټولنیزو نورمونو په اساس یې قانون منلی دی. ماکیاولي هم ویلي وو چې سیاسي مشران دې په اخلاقو تظاهر کوي خو عملي کوه دې یې نه. په همدې ډول یو سیاستمدار بریالی کیدای شي.دې نظریاتو په شلمه پیړۍ کې دوه نړیوالو جنګونو، د چین داخلي انقلاب، د روسیې د اکتوبر انقلاب، د ویتنام جګړې، پر افغانستان د شوروي اتحاد تیري او نورو خونړیو جګړو ته لار اواره کړه. که همدا مفکوره دوام وکړي نورې خونړۍ جګړې به هم وشي. د وسلو سیالي به هم دوام وکړي او د انسانانو ژوند به د مرګ تر سیوري لاندې پاتې شي.دینونه په عام ډول او اسلام په ځانګړي ډول بیا د دغو نظریو برعکس نظر لري او قرآن وایي چې انسان په بهترین شکل، د الله تعالی په فطرت جوړ شوی او د کرامت خاوند دی:وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَىٰ كَثِيرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا ﴿الإسراء: ٧٠﴾ ترجمه: موږ د ادم اولاد ته کرامت ورکړ او په وچه او سمندر مو د تلو وس ورکړ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

له پاکو (خوراکونو) رزق مو ورکړ او د مخلوقاتو په ډېره برخه مو لوړتیا ورکړه.لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ ﴿التين: ٤﴾. ثُمَّ رَدَدْنَاهُ أَسْفَلَ سَافِلِينَ ﴿التين: ٥﴾ ترجمه: موږ انسان په بهترین شکل پیدا کړی دی. (او په ښه صورت کې تر پیدا کیدو) وروسته تر ټولو ټیټ حالت ته ځي.فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا فِطْرَتَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿الروم: ٣٠﴾ترجمه: د حنیف دین پر لور مخ واړوه، د خدای فطرت هغه دی چې انسان یې د هغه په اساس جوړ کړی دی. د الله په خلقت کې تبدیلي نه راځي. همدا قایم دین دی خو زیاتره انسانان نه پوهیږي. په حدیث شریف کې هم راغلي دي چې هر ماشوم د اسلام په فطرت زیږي؛ دا مور و پلار (او محیط) چې د ماشوم فطرت بدلوي.د اروایپوهنې او طب هغه څیړنې چې تر سره شوي دي دا تاییدوي چې انسان د فطرت له مخې خیرخواه دی. که دوه ماشومان خپلو کې لوبې کوي او یو له بله د لوبو سامان واخلي، مقابل لوری ژاړي. د دې ژړا په مقابل کې لومړی ماشوم خپل د لوبو سامان هم ورکوي خو غواړي چې هغه غلی شي.لکه چې مو وویل وروسته انسان د ژوند د ستونزو له ویرې ناروا وو ته لاس اچوي. خو د ژوند په پای کې بیرته خیر او ښو ته تمایل ښيي او ښیګڼې ته راګرځي. په څو زرو هغو انسانانو چې مرګ ته په نږدې حالت کې وو، څیړنې شوي دي. او تر مرګ مخکې ترې په خاص ډول معلومات اخیستل شوي دي چې دوی یوازې د دوه شیانو افسوس کړی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاشکي له کورنۍ، خپلوانو او دوستانو سره یې ډېر وخت تیر کړی وای او مینه یې ورسره کړې وای، او

کاشکې له نورو انسانانو او بیوزلو سره یې لا زیاته مرسته کړې وای.زما په نظر په انسانانو کې باید دا تعلیم عام شي، چې دوی خیرخواه دي او یو له بل سره دې د خیر او ښېګڼې په کارونو کې مرسته او همکاري وکړي. انسان ته دا ذهنیت ورکول چې شریر موجود دی، په ده کې شریرتوب زیاتوي او باید دا کار ونه شي.

■■■■■■■■

✓جدي شپږمه؛ هغه ورځ ده چې پخواني شوروي اتحاد په خپل یو دوست! حکومت، یو سرلوړي هیواد او یو باشهامته ملت، وحشي یرغل راوړ.شوروي دولت لومړی دا جګړه د امپریالیزم څخه د افغانستان د ژغورلو جګړه وبلله، خو وروسته شوروي مشر ګورباچوف (خونړۍ ټپ) وګاڼه او جنرالانو یې اعتراف وکړ چې پر افغانستان شوروي یرغل یو داسې بم و چې دغه زبرځواک یې له داخله وپاشه. خو اصلي تاوان یې دلته موږ ته واړوه. د یو مظلوم او بې وزلي ملت یونیم میلیون بې ګناه انسانان یې ووژل، پنځه میلیونه یې مهاجر کړل، درې میلیونه یې معلول کړل، اتیا سلنه کلي یې وران کړل او له څلورو تر شپږ سوه بیلیونه ډالرو تاوان یې درواړوه. تر ټولو بد اغیز یې دا دی چې د یو واحد مسلمان ملت په منځ کې یې د نفاق تخم وکاره او نورو بدخواهانو ته یې د افغانستان د لا ورانۍ زمینه برابره کړه.د دې یرغل د زمینې جوړولو عوامل زیات دي، خو عمده عوامل یې د لوی پتر له وخته د هند سمندر ته د روسانو د پرمختګ ارمان، د سردار

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد داود له خوا د افغانستان د عنعنوي بې طرفۍ پرېښودل، په شوروي زياته تکيه کول او بيا ترې په افراطي ډول ليرې کيدل، پر شوروي اتحاد او کمونستي عقيده د بې تجربه خلقيانو او پرچميانو ړوند باور او له خپلو خلکو او نورې نړۍ جدا کيدل، د خپلو ګټو لپاره د ګاونډيانو او غرب له خوا د سولې او روغې جوړې مخنيوی او د مجاهدينو بې اتفاقي دي. خو ملت خپله دنده سمه تر سره کړه: زور او تکبر ته تسليم نه شول او خپل او د هيواد او ملت عزت يې وساته؛ هر څه يې قربان کړل خو د وياړ کېسې يې وګټلې!د دې جګړې تر ټولو زياته ګټه د امريکا متحده ايالاتو ته ورسيده چې د نړۍ بې رقيبه زبرځواک شو او حريف يې د افغانانو په وينو مات شو، دويمه درجه ګټه پاکستان وکړه چې د اتومي ځواک خاوند شو. يو څه تاوان شوروي اتحاد وکړ چې له زبرځواکۍ راوغورځيد، اقتصاد يې تباه شو، نوم يې بد شو او (شوروي اتحاد بيرته روسيه شوه) خو تر ټولو زيات تاوان افغانستان او افغانانو وکړ چې له دغو پورته قربانيو سره سره دوستانو په نيمه لار کې پرېښود او دښمنانو يې د ټپي بدن لا ټپي کولو ته تر اوسه دوام ورکړی دی.نوي نسل ته له دغو کرښو درس دا دی چې په هيڅ هيواد په هيڅ نوم دومره باور ونه کړي چې بيا دغسې ظلم ورسره وکړي، او له خپلو خلکو هيڅکله دومره ليرې نه شي چې بيا پرې بهرني يرغل کړی وي او ولس يې غيږه کې نه پريږدي. پخپلو کې هم دومره يو له بله ليرې نه شي چې بيا بې د بهرنيانو له مداخلې د ورورۍ روغه هم نه شي کولی. دا خو څرګنده ده چې بهرنيان په هر څه کې خپلې ګټې لټوي، نه زموږ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

●●●●●●●●

✓د انسان مهمې اړتياوې کومې دي؟د ابراهيم ماسلو د اړتياوو د تيورۍ له مخې د انسان اړتياوې دا دي:اساسي يا فزيولوژيکي اړتياوې: هوا، اوبه، غذا، کور، لباس، د نسل توليد، خوب.

خونديتوب: شخصي خونديتوب، د دندې خونديتوب، د منابعو، روغتيا او جايداد خونديتوب.

مينه او ټولنيز پيوند: مينه، محبت، کورنۍ، د اړيکو حس.درنښت: احترام، ځاني درنښت، موقف، شهرت، قوت، ازادي.ځان په هغه تر ټولو لوړ حالت کې ليدل چې ممکن وي.

■■■■■■■■■

✓د يو شخص د مهذب توب لويه نښه داده چې ښځو ته درناوی ولري او د يو ملت د متمدن والي او رښتيني انساني پرمختګ لويه نښه داده چې ښځې پکې پياوړي او له درناوي برخه منې وي.که د ښځې عظمت نه شئ درک کولای خپله مور درياده کړئ؛ بيا پوهيږئ چې ښځه څومره ستره او محترمه ده. ښځه د الله تعالی د قدرت يوه تر تولو لويه نښه ده.

■■■■■■■■■

✓کومه لاره به غوره وي؟

تر کورنيو جګړو وروسته د بيلابيلو نظامي ډلو تر منځ ايتلاف زياتره موقتي وي او د سولې او دوامدار ثبات سبب کيږي نه. خو کله چې يو نظامي قوت پر نورو بريالی شي، سوله راځي چې پرمختګ ته لار خلاصوي او د عدالت په صورت کې دوام

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي.د افغان ـ انګلیس تر دویمې جګړې وروسته امیر عبدالرحمن خان پر نورو بریالی شو او یو پیاوړی حکومت یې جوړ کړ.د روسانو تر وتلو وروسته انجینیر احمدشاه مسعود (نظار شورا او جمعیت اسلامي) او انجینیر ګلبدین حکمتیار (حزب اسلامي) کوښښ وکړ چې هیوادشموله واک ونیسي، خو یو یې هم پر ټول افغانستان تسلط پیدا نکړ. ملا محمد عمر مجاهد (د طالبانو اسلامي تحریک) دغه کار وکړ خو ژر له نړۍ سره ټکر شو او افغانستان ته د نړۍ د ۴۸ هیوادونو نظامي ځواکونه راغلل.اوس چې بیا د طالبانو اسلامي تحریک واک نیولی دی، نو د افغانانو مخې ته درې لارې پرتې دي:طالبان له نړۍ سره جوړ شي، ټول ملت په واک کې د عادلانه فرمول له مخې پر ځان راټول کړي او د یوویشتمې پیړۍ له غوښتنو سره سمې ملي او نړیوالې اړیکې تنظیم کړي.د نظار شورا او جمعیت اسلامی مقاومت فعال شي، دوام وکړي، بیا کومې (پیښې) ته په تمه شي چې د نړۍ په مرسته واک ونیسي او له نورو جنګي ډلو او تکنوکراتو شخصیتونو سره ګډ حکومت جوړ کړي.داعش ته زمینه جوړه شي او د سوریې او عراق په شان کور په کور تباهي راشي.

■■■■■■■■■■

## ✓ملي ګټې

ملي ګټې څه شی دي؟ د خاورې، دولت، ولس، ارزښتونو او منابعو خوندي توب چې د امنیت، ثبات او نیکمرغۍ سبب شي.

د ملي ګټو د ساتلو لپاره څه کول پکار دي؟ په دننه کې: د ټولو (یا لږ تر لږه اکثریت) ښاروندانو/ وګړو رضایت تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسـه کول. په بهر کې: له ګاونډ او نړۍ څخه د مصوونیت
ډاډ.

ملي ګټې څنګه تر لاسه کیږي؟ دننه کې: ملي حاکمیت
ټینګول، قوانین او ټولنیز قراردادونه جوړول، د هغه د تطبیق
لپاره اغیزناکې ادارې لرل او د هغو پلي کول. له بل لوري د
دولت، ولس، منابعو او خاورې د ساتلو لپاره (نظامي،
استخباراتي، سیاسي/ دپلوماتیک، بشري، اقتصادي، فکري،
فرهنګي ....) امکانات لرل او د هغو د کارولو وړتیا درلودل. په
سیمه کې: د لازم نفوذ وسایل لرل او استفاده ترې کول. په
نړۍ کې: مشروع اړیکي او حمایت لرل.

لوی هیوادونه خپلې ملي ګټې څنګه ساتي؟ په دننه
کې هماغه څه کوي، چې پورته یاد شول. په بهر کې:
لومړی. دیپلوماتیکي اړیکې او د خپلو ارزښتونو ترویج،
دویم. بشري مرستې، دریم. استخبارتي فعالیتونه،
څلورم. اقتصادي فشارونه، پنځم. نظامي یرغل.

پوښتنه: په تېرو سلو کلونو کې زموږ کوم دولت د ملي ګټو په
ساتلو قادر شوی دی؟

سوله، رفاه که دواړه؟

په یوه هیواد کې د دولت د بریالیتوب دوه شاخصونه تر نورو
مهم دي:

الف. سوله، امنیت او ثبات راوستل

ب. رفاه/ سوکالي او نیکمرغي یقیني کول (حد اقل له لوږې د
خلکو خلاصون)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تیرو لسیزو کې په افغانستان کې یو هم په سمه ماناه نه وو موجود.

اوس پوښتنه داده چې په دغو دواړو کې کوم یو زیات مهم دی؟ د ځینو مفکرینو په نظر د ولړې پای ته رسول لومړیتوب دی، ځکه وږی انسان هر کار ته لاس اچولی شي، ناامني او ګډوډي منځ ته راوړلای او ټولنیز نظم ګډوډلای شي. خو نور بیا وایي چې که سوله او امنیت نه وي، نو ځنګه به کاروبار و زراعت و صنعت و تجارت ته زمینه جوړه شي چې ولږه پای ته ورسوي؟کیدای شي ووایو چې د انفرادي انسان په توګه د ولږې چاره مهمتره ده ځکه انسان په څو ورځو د خوړو له نشتون څخه مري؛ امنیت یوازې فردي دنده نه بلکې د فرد په امنیت کې ټولنه او دولت زیاته برخه لري. خو یوه دولت ته باید پر جغرافیه د تسلط ټینګول او خلکو ته د سولې او امن راوستل لومړیتوب وي. ځکه که د دولت تسلط موجود نه وي، نو چیرته، کوم خدمات وړاندې کړي، او که په محدوده سیمه کې خدمات وړاندې هم کړي، تدوام، بقا او عمومیت به یې څرنګه تضمین شي. دولت باید لومړی امن راولي، بیا رفاه او د رفاه په راوستلو امن متداوم او په ثبات یې تبدیل کړي. درېیم نظر هم تر بحث لاندې راتلی شي، چې باید دواړو اړخونو ته همزمانه توجه وشي.

■■■■■■■■■■

✓افغانستان چا وران کړ؟

یو روایت دا دی چې انګلیسانو له افغانانو سره په شوو درې جګړو کې دماتې له امله کینه درلوده، نو له هند له نیمې وچې څخه له وتلو سم یې پاکستان جوړ کړ، زموږ غصب شوې خاوره یې هم پاکستان ته ورکړه، پوځ یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورپیاوړی کړ او په سیمه کې یې خپل متحد جوړ کړ.
انګریزانو، امریکا او پاکستان د سردار داود پر ضد د ناراضي
مجاهدینو د تقویه کولو له لارې شوروي اتحاد پر
افغانستان یرغل ته راکش کړ، بیا یې د افغانانو په بدنونو
او وینو، د پاکستان په لوژستیکي مدیریت، د عربو او غرب
په پیسو او (زیاتره) د غرب په وسلو شوروي اتحاد مات او
په روسیې بدل کړ. افغانستان په دې جګړه کې وران شو
خو د قربانیو ګټه یې پاکستان او امریکا ته ورسیده.بل
روایت دادی چې افغانستان د امیردوست محمد خان،
امیر عبدالرحمن او محمد نادرشاه د ستراتیژیک لید له
مخې د شرق او غرب (لومړی تزاري روسیه او انګلیستان
او بیا شوروي اتحاد او د امریکا متحده ایالاتو) تر منځ د
توازن سیاست پر مخ بیوه. تر دویمې نړیوالې جګړې
وروسته چې انګلیسانو له سیمې د وتلو هوډ وکړ نو
امریکا افغانستان په سیاټو یا سنټو کې د غړیتوب له لارې
اتحاد ته وباله خو پادشاه محمد ظاهر شاه د شوروي
سره د اوږدې پولې په درلودلو، د ګاوندیتوب د اصولو
مراعاتولو او د هیواد د عنعنوي بې طرفۍ له مخې له
دغه فرصته استفاده ونه کړه او هماغسې بې طرفه پاتې
شو. امریکا او انګلستان د خپلو ګټو ساتلو لپاره پاکستان
رامنځ ته کړ. افغانستان مجبور شو د شوروي خواته
متمایل شي تر څو د پاکستان د پرمخ تلونکې نظامي
ګرۍ مقابله وکړای شي. خو شوروي د تزار او لینن د
هغه ارمان د پوره کولو پر لور ګړندی شو چې ځان ګرمو
اوبو ته ورسوي او د نړیوالې مشرۍ لپاره د امریکا په
مقابل کې له ښه دریځه برخمن شي. محمد ظاهر شاه
یې د خپل تره زوی او اوښي سردار داود په واسطه له

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځه یووړ، د سردار داود نظام يې په خلقیانو چپه کړ، د خلقیانو پر خلاف يې د ببرک کارمل کودتا پلان کړه چې ناکامه شوه او څه موده وروسته يې پر خپلو ایډیولوژیکو ملګرو (خلقیانو) نظامي یرغل راوړ؛ د دوی نظام يې ړنګ کړ او ببرک کارمل يې د واک پر ګدۍ کښیناوه. دې عمل اکثریت ملت د مجاهدینو سره ملګرتوب ته مجبور کړ. د اوږده جنګ په نتیجه کې شوروي اتحاد له افغانستان څخه د خپلو پوځونو وتلو ته مجبور شو او یوه موده وروسته زموږ هیواد په کورنۍ جګړه کې ښکیل شو. همدغو کورنیو جګړو د امریکا راتګ ته هم لار هواره کړه او تر اوسه لا افغانستان د هماغه څه سزا ویني چې د دوستۍ په جامه کې د شوروي اتحاد له یرغل سره پیل شوې وو.

●●●●●●●●●

✓د ګران افغانستان د ویجاړۍ داخلي سببونه کوم وو؟

(په تیر پوست کې د هیواد د ورانۍ د بهرنیو سببونو د دوه روایتونو په تعقیب) د زیاترو باخبره افغانانو په نظر د افغانستان د ورانۍ ځینې داخلي سببونه دا دي: هېواد جګړو ځپلې او له سمندر څخه پرې شوی وو، اقتصادي منابع يې کافي نه وې، د پوهنې، مهارتونو او اقتصاد غوړیدو ته لار هواره نه شوه، دولتونو هم د عنعنوي فعالې بیطرفۍ سیاست ونه شو ساتلای، د سیاسي فعالیت تر پیل مخکې يې ځوان نسل ته ملي ګټې تشریح نکړې، او د دوی د مدیریت، تنظیم او کنترول اغېزناک سیستم يې ورته جوړ نکړ. چارواکي تر یوه بریده په فساد، غلا، پردیو ته په خدمت او خیانت کې ښکیل شول.ځوان سیساستوال د چټکې تره قۍ او له هیواد څخه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خيالي جنت يا خيالي فاضله مدينې په تمه (په شعوري يا ناشعوري ډول) د نورو هيوادونو په لمن کې ولويدل، له داخلي حريفو ډلو سره يې د سياسي مخالفت حد د نه پخلا کيدونکې دښمنۍ پولې ته ورساوه، کودتاوې او جګړې يې پيل کړې، خپلو کې يې شديد جنګونه وکړل، له نورو هيوادونو سره يې د جوړونکو او ګټورو اړيکو او مداخلې او تيرې تر منځ تفاوت درک نه کړای شو او ګاونډيانو او ليرې هېوادونو ته يې د کور دروازې خلاصې کړې، د خپل حريف د ټکولو لپاره يې پر هيواد د بهرنيانو له لښکرو سر ملګرتيا وکړه. په نتيجه کې داسې فاجعه رامنځ ته شوه چې هم هيواد وران شو، هم ولس تباه شو، هم اقتصاد و نړيد او هم لوبغاړي زيانمن شول.

●●●●●●●

✓کوچنيو هيوادونو او ملتونو ته ګوذاره ښه ده که ټکر؟

زما په نظر په اوسنۍ نړۍ کې کوچنيو هيوادونو او ملتونو ته تر ټکر؛ باحکمته سازش ښه دی. زموږ په مشرانو کې امير دوست محمد خان، امير عبدالرحمن خان او اعليحضرت محمد نادر خان په دغه ډول سازش تر ډېره بريده پوهيدل. احمدشاه بابا او ميرويس نيکه هم د مصلحت او خوصلې وروسته بري او وياړ ته ورسيدل.

خو هغو مشرانو چې له لويو قوتونو سره ټکر وکړ، په نتيجه کې هم دوی له واکه و غورځيدل او هم د هيواد او ملت پر مخ د لويو تباهيو او برباديو دروازې خلاصې شوې.اوس افغانستان هم په کور دننه او هم بهر له سيمه ايزو او نړيوالو ځواکمنو ملتونو او هيوادونو سره متوازن او باحکمته تفاهم، تعامل، سازش او جوړجاړي ته اړتيا لري. نړۍ اوس يو کلی دی او موږ بايد په دې کلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د ژوند په ګوذاره پوه شوو.د نرمو پالیسیو په وړاندې د پیغورونو پر ځای؛ د نرمښت تشویقول د هیواد او ولس په ګټه دي.

د سیاسیونو اعمال پر قوم حسابول انصاف نه دی

زما په فکر دا انصاف نه دی چې د ځینو سیاسیونو اعمال د یوه قوم اعمال وګڼل شي. له بله اړخه دا هم انصاف نه دی چې د خپل قوم د سیاستوال عیب د ولیو منځ او د بل قوم د سیاستوال عیب د کلیو منځ وګڼل شي.

زموږ په شریکه جغرافیه کې سیاسي مشران له بېلابیلو سیمو او قومونو راپاڅیدلي دي چې ښه او بد یې په لومړي ګام کې فردي، په دویم ګام کې د هغې سیاسې ډلې یا تشکل او په پای کې د هغه نظام پر غاړه دي چې نوموړی یې مشر وو. مسؤلیت قومونو ته نه راجع کیږي. قومونه کومه ګناه نه لري. حکومتي تشکیلات دومره لوی هم نه وي چې یو قوم دې پکې ټول ځای شي.البته د هیوادونو د اعمار او قربانۍ په لیکو کې د ټولو قومونو غړو په یوه ډول نه یو ډول قربانۍ ورکړې دي په سیاسي مشرۍ کې سر ته راتلل هم لکه د ورزش په شان دي. د مشرۍ شوقیان او اهل باید لومړی خپل میدان وګټي، بیا سیمه ایز او بیا ملي. البته په ورزش کې دا رقابت همیشه سوله ایز وي خو په سیاست کې کله کله تشدد ته هم لاس اچول کیږي. د تاریخ په اوږدو کې زیاترو سیاسي مشرانو هم لومړی د خپل قوم په منځ کې مخالفین ځپلي دي، بیا د ملت په منځ کې او تر هغه وروسته سیمه ایزونو او نړیوالو میدانونو ته وروتلي دي.خو دا لا تر اوسه د انسانانو عامه کمزوري او/ یا مجبوریت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د خپل ملت هغه جنګيالي اتلان ګڼي چې د بل ملت هيواد يې لوټ کړی او ولسونه يې ورتباه کړی وي. حد اقل د يو ملت په منځ کې بيا دغسې ورانی او تباهي مثبت عمل نه ګڼل کيږي او هغه څوک چې دغه کار کوي، ملت ته زيان رسوي.

که موږ د افغانستان په تاريخ کې لومړی د ورونو، بيا د تربرونو او بيا د قومونو د مشرانو تر منځ رقابتونه وخيږو، له نورې نړۍ ماهيتي تفاوت نه لري، البته په شدت او وسعت کې ترې کم دي. بله دا چې د زياترو چې وس رسيدلی، يا مجبور شوی دی دغسې کړنې يې کړې دي، خو ډير سپړل يې اوس زموږ کوم درد نه دوا کوي.

که دغسې ټولې هغه پيښې اوس راوسپړئ چې څرګنده کړي چا په تيرو ۱۵۰۰ کلونو کې د بهرنيانو سره د ملګرتوب يا د خپل واک لپاره خپل څومره هيوادوال وژلي، څومره کله منارونه يې جوړ کړي دي، څومره تباهي يې کړې ده او څومره بې ننګۍ يې قبولې کړې دي، نو د هغو دوستانو تصور به بيخي بدل شي چې د بل لوري له خوا د ظلم تر ټولو زياتې ادعاوې کوي.

راځئ په نن کې ژوند وکړو او د خپل ځان او ملت د نجات لپاره د نني او سباني ژوند د معقولو تعاملاتو په رڼا کې لارې چارې ولټوو.

●●●●●●●●

✓فرهنګي حساسيت د نجونو د زده کړو په مخکې اساسي خنډ نه دی.د علم زده کړه پر هر مسلمان فرض

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده. د نړۍ لومړی پوهنتون د یوې مسلمانې ښځې له خوا تاسیس شوی وو.

که یو هلک زده کړه وکړي، یو نسل؛ خو که یوه جنۍ زده کړه وکړي، پنځه نسله متمدن کیږي. مشهوره خبره ده چې: تاسو ماته یوه تعلیمیافته مور راکړئ، زه به یو متمدن ملت درکړم.په افغانستان کې د ۴ میلیونه نجونو په ګډون ۹ میلیونه ماشومان ښوونځیو ته تلل، چې دا یو لوی بری دی. سره له دې چې د بېلابېلو عواملو له امله تر درې نیم میلیونه زیات ماشومانو چې ٪۷۵ یې نجونې دي، لا هم زده کړو ته لاسرسی نه درلود، خو د دې سبب کلتوري حساسیت او وروسته پاتې والی نه، بلکې لاندې سببونه وو:

ناامني

د ښوونځیو او وسایلو نشتوالي او د خدماتو په ویش کې بې عدالتي

ستونزمنه جغرافیه

د کورنیو اقتصادي کمزوري

په کمه اندازه کلتوري حساسیتونه

وروستی عامل ښوونځیو ته د ماشومانو په راتګ ٪۲ اغیز لري، خو هغه هم د ښځینه ښوونکو د تقرر، د ملي لباس کارولو او د نجونو او هلکانو د جلا ټولګیو او ښوونځیو په برابرولو حلیږي؛ چې د لباس او جلا ټولګیو ستونزه لا له پخوا حل شوې ده او ښځینه ښوونکي هم د ۱۲ ټولګي د فارغانو په ژر مقررولو او همزمانه ورته د ښوونکو د زده کړو په موسسو کې د شمول له لارې ژر حلیږي.افغانستان د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلامي هيوادونو په منځ کې د علم، ساينس، تحقيقاتو او معرفت له ګوتو په شمير مهمو مرکزونو څخه وو او بايد وي او وي به ان شاالله.رابعه بلخي، ګوهرشاد بيګم، محجوبه هروي، نازو آنا، ملالۍ، زرغونه آنا، ميرمن زينب، عايشه دراني، ملکه ثريا، تاجور سلطانه او په زرګونو نورې وياړلې افغانانې د علم او معارف په برخه کې د خپل وخت تر ګاونډيو هېوادونو مخکښې وې. زموږ خويندې او لوڼه به د خپلو ورونو او پلرونو په شان د علم د رڼا په لاس ته راوړلو کې تل مخکې وي.په ملتونو هم د افرادو په شان کله کله ستونزې راځي، خو دايمي نه وي.

افغانان به هم له ستونزو راووځي او ټولو ته به وښايي چې له مور څخه د مهربانې دايې پيغورونه او مغرضې همکارۍ موږ لا بيداروي او متوجه کوي.

ژمي تيرېږي خو توروالی د سکرو پر مخ پاتېږي!!!

■■■■■■■■■

✓آيا له ساينس څخه د خير تمه زياته ده که د شر؟

په شلمه پيړۍ کې ساينس تر بل هر وخت زيات پرمختګ وکړ. په نتيجه کې د بيلونونو (ميلياردونو) انسانانو ژوند وژغورل شو، د ژوند توقع تر دوه چنده لوړه شوه، انساني رفاه په ډېرو هيوادونو کې تر ټولو لوړ حد ته ورسيده. سوداګري، اړيکي، سفر، وسايل، ټکنالوژي، د علم او معلوماتو تبادله، نړيوال سازمانونه او اصول او ډير نور پرمختګونه راغلل چې د انسان د ژوند کيفيت او ارزښت ورسره ښه شو. خو د ساينس د ناوړه کارولو له امله

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتومي او هایدروجني بمونه هم جوړ شول چې د کتلوي تباهۍ زور لري.

توقع ده چې په اوس او راتلونکې کې د مصنوعي شعور، بیوټکنالوژۍ، نانوټکنالوژۍ، لمریزې انرژۍ، د احساس انتقال، له کمپیوتر سره د مغزو وصلولو، د عمر اوږدوالي، د زړښت مخنیوي، فضایي ترانسپورت او سفر، فیوژن ځواک، د تیرې زمانې د حیواناتو له ژینوم څخه استفادې او نورو برخه کې ساینسي پرمختګونه چټک شي. هیله ده دا نوي کشفونه به هم د انسانانو په ګټه وي. خو له هستوي انرژۍ، د هوا د تودوخې د زیاتوالي او احتمالي بیولوژیکي جګړو څخه پیشبیني کیدونکي خطرونه به خدای ناخواسته تر هغه بریده زیات وي چې عواقب یې بیرته راوګرزول شي. له بلې خوا به دا پرمختګونه د پرمختللو او وروسته پاتې هیوادونو او ملتونو تر منځ واټن لا زیات کړي.

□□□□●●●●●●

- ✓ بې له شکه چې د ساینس او ساینسي څیرنو، کشفونو او تولیداتو ګټه له حده زیاته ده خو د ذکر شوو بیلګو او دوی ته د ورته ساینسي پرمختګونو د عملي او احتمالي تاوان او شر مخه څنګه نیول کیدای شي؟

خیرخواه پوهان په دې نظر دي د نظامونو اصلاح یې تر ټوله غوره لار ده چې د نړۍ او ټولنو د لا زیات ویش مخه ونیول شي، په هیوادونو کې دننه او ټوله نړۍ کې عدالت تقویه او عام شي او د منابعو په ویش کې انصاف وشي. د دې لپاره پکار ده چې ۱). دیني مشران او بنسټونه، ۲)، مدني ټولنه، ۳). د پوهنې بنسټونه، ۴). عالمان او ۵).

(c) ketabton.com: The Digital Library

پالیسي جوړونکي په خپلو مثبتو هڅو او کړنو سره د ساینس د ګټو تناسب نور هم لوړ او د احتمالي شر او ضرر کچه یې کمه کړي.

■■■■■■■

✓د دې لپاره ملي او مدني حرکتونه دنده لري چې د نړۍ په پالیسي جوړونکو دوامدار فشار وساتي تر څو داسې پالیسۍ او قوانین جوړ او عملي کړي چې له ساینس څخه فقط د بشریت د خیر لپاره د استفاده کولو ایډیال ته ورسیږو.ستاسو په نظر نور څه کیدای شي؟د نړۍ اوسني دولتونه پر نورو افرادو او قومونو د یوه قوم یا کورنۍ نسلي او نژادي برتري نه کوم علمي بنسټ لري او نه ښه او عادلانه فکر دی. ټول انسانان په کرامت کې مساوي دي او باید مساوي حقونه او د قانون په وړاندې یو شان متوازن مکلفیتونه ولري. د نړۍ پخواني دولتونه او امپراتورۍ د یوې کورنۍ او یا یو قام په مشرۍ مخ ته تللې او نورو خلکو پکې زیاتره دویمي ځای درلود.د نړۍ اوسني ازاد هیوادونه هم که د هر شعار له مخې خپل نظامونه چلوي، په عمل کې ملت ـ دولتونه (Nation-States) دي، که څه هم نوم یې اسلامي جمهوریت یا ولسي جمهوریت وي او په سر کې یې دیندار، ضد دین یا لبرال مشر ناست وي. دوی خپلو ملي ګټو او د خلکو اساسي حقوقو او ازادي ګانو ته په یو ډول لږ و زیات ژمن دي خو د خپلو ملي ګټو په مقابل کې د نورو هیوادونو او ملتونو د خلکو د هیڅ ډول حقوقو او ازادیو پروا نه لري. د خپل یوه تبعه سره د بل هیواد ټول نفوس نه برابروي. په دې واقعیت کې د نړۍ تر ټولو پرمختللی ملي دولت هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نورو ملتونو د انسانانو د ښه والي په وړاندې هيڅ مسؤوليت نه حس کوي.

ولس، جغرافيه، رهبر، دولت او مفکوره د يوه دولت جوړونکي عناصر دي او له خپلې جغرافيې او دولت سره مينه او وفاداري اوس هم د انسانانو او ملتونو حاکم ذهنيت او واقعيت دی. هيڅ اسلامي يا غير اسلامي هيواد د خپل هيواد او دولت په نسبت له بل هيواد يا دولت سره زياته مينه نه کوي.که څه هم انسان تر دې يو ښه نظام ته ضرورت لري، ځکه (بنيادم اعضای يکديگر اند). خو د نړۍ اوسنی تريخ واقعيت لا همدغه دی چې ذکر شو! آيا په نږدې وختونو کې ممکنه ده چې د ټولو ملتونو او انسانانو لپاره په يوه نړيوال عادلانه نظام او د مساوي حقوقو په يوه سيستم فکر او کار وشي؟ فکر کوم دې مرحلې رسېدو ته لا اوږده لار پرته ده.

●●●●●●●●

✓د سگرتو او ټولو مضرو عادتونو پر ضد د عمل اړتيا ده

ايمل پسرلي پر خپله فيسبوک پاڼه يو ښه خبر ليکلی دی چې نيوزيلنډ غواړي په سېگرېټ څکولو بنديز ولگوي. دوی نوی قانون نافذوي چې که هر څوک په ۲۰۰۸ کال يا راوروسته زېږېدلی وي ټول عمر به سېگرېټ نه شي څکولی.

دا ډير ښه نوښت او ډېر عالي اقدام دی. که ټول پرمختللي هيوادونه دا اقدام تعقيب کړي او په ټولو قوانينو کې د انسان خير او ښيگڼه لومړۍ وگڼي، هر کال به د ميليونو انسانانو روغتيا ښه او د بې وخته مړينو مخه به

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونیول شـي. همدا راز به د بیلیونونو او ټریلیونونو ډالرو تاوان مخه به ونیول شـي.

که هر هیواد د الکهولي مشروباتو، قمار، سـودي ګټې، جنسـي سـوداګرۍ، هیروییینو او چرسـو د قاچاق، چاپیریال ککړولو او نورو انسـان ضد پدیدو پر ضد د پالیسـیو او قوانینو په جوړولو او عملي کولو کې د یوې برخې سـرلارۍ شـي. نور هیوادونه به ورو ورو همدغه لار ونیسـي.

په دې برخه کې د مدني مبارزې اړتیا ده چې د تېرو تجربو له مخې یې ښـې اغیزې مشـهودې دي. په وروسـتیو پیړیو کې د مدني مبارزو په نتیجه کې د نړۍ له مخه غلامي تقریباً ختمه شـوه، د ښـاروندۍ حقوق ترویج شـول، د هیوادونو په سـرنوشـت ټاکلو کې ولسـونو ته حقونه ورکړل شـول، مذهبي ازادي او زغم زیات شـو او  د تجربي علومو تعمیم ته لار پرایسـتل شـوه.

معلومدار چې دغه ټول پرمختګونه په یوه ورځ او وړیا رانغلل، د سـختو مبارزو او درندو قربانیو نتیجه وه خو دغومره لوی کار په زیار او قربانیو ارزي.

●●●●●●●

✓د ښـځو د لیک زده کړې شـرعي حکم

زموږ د هیواد زیاتې ټولنیزې او کلتوري ننګونې له بې خبرۍ او د شـرعي حکمونو له ناسـم پوهاوي څخه سـرچینه اخلي. که څه هم د اسـلام د مبارک دین په ښنسـټیزو نصوصو کې د زده کړې، لوسـتلو او لیکلو په اړه د نارینه او ښـځینه تر منځ له توپیر پرته په عمومي توګه زیات ټینګار شـوی، خو سـره له دې هم د ښـځو لپاره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

علمي او فني زده کړو لزوم د خلکو په وړاندې روښانه ندی او د یو لړ ضعیفو او جعلي روایتونو په بنسټ داسې انګېرل کیږي چې اسلام ښځو ته د زده کړې او د لیکلو په څېر د فني مهارتونو او هم د عصري علومو د زده کړې اجازه نده ورکړې. دا پداسې حال کې چې اسلام نه یوازې دا چې ښځو ته د دیني او ټولنیزو علومو د زده کړې اجازه ورکړې، بلکې هغوی یې هڅولي هم دي او د نارینه و په څېر یې پر ښځو هم زده کړه لازمي ګڼلې.

په دې بنسټ د علماو او پوهانو دنده ده چې د خلکو له ذهنونو د تیارو دا ټغر ټول او هیواد د پوهې او علم په مشال روښانه کړي؛ ځکه دا به د خدای له دین سره ستره جفا وي چې موږ د دین له ادرس څخه ښځې له زده کړو او لیک لوست څخه منع کړو.

د ښځو د لیک لوست مخالفینو په ځینو موضوعي او جعلي روایاتو استناد کړی، او د دې مقالې د لیکلو موخه د پورتنۍ موضوع روښانه کول دي. لومړی به له لیکلو څخه د ښځو د منع کولو روایتونه وارزول شي او بیا به هغه دلایل او نصوص تشریح شي چې د ښځو له استثنا پرته د علم او پوهې ارزښت څرګندوي.

لومړۍ برخه: د «لا تنزلوهن الغرف ولا تعلموهن الکتابة» روایت ارزونه

طبراني ، بیهقي  او حاکم  له عائشې رضی الله عنها څخه روایت کړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د ښځو په هکله ویلي: « لا تنزلوهن الغرف ولا تعلموهن الکتابة، یعني النساء، وعلموهن المغزل وسورة النور»: (ښځې په لوړو منزلونو کې مه هستوګن کوئ او هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته لیکل مه ورزده کوئ. هغوی ته د اوبدلو هنر او د نور سورت ورزده کړئ.)

له دې روایت څخه ښکاري چې اسلام ښځو ته د لیک زده کړه ناروا کړې کومه چې د علم او پوهې تر لاسه کولو ستره وسیله ده. څرنګه چې لیکل د علومو او فنونو په زده کړه کې مهم رول لري، بناء د هغوی زده کړه هم تقریبا ناشونې کیږي.

خو پر دې روایت استدلال کول په څو دلیلونو ناسم دي:

لومړی: د روایت د سند ضعیفوالی.

که څه هم حاکم د دې حدیث سند ته صحیح ویلی، خو د تخریج، جرح او تعدیل ټولو عالمانو دا روایت ناسم او جعلي بللی، چې پدې اړه به د جرح او تعدیل د ځینو عالمانو ویناو ته اشاره وکړو:

امام ذهبي د حاکم له دې وینا «هذا حدیث صحیح الإسناد و لم یخرجاه» وروسته چې د نومړي روایت سند یې صحیح ګڼلی، داسې ویلي: « بل موضوع» . یعنې دا حدیث صحیح نه، بلکې جعلي او له ځانه جوړ شوی.

حافظ ابوبکر هیثمي ویلي: ددې روایت له راویانو څخه یو هم محمد ابن ابراهیم شامي دی او دارقطني هغه کذاب (سخت دروغژن) بللی.

حافظ ابن حجر عسقلاني، محمد ابن ابراهیم شامي (منکر الحدیث) او د جعلي حدیثونو له جوړوونکو څخه شمېرلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حافظ شمس الحق عظیم آبادي د « عقود الجمان في جواز تعلیم الکتابة للنسوان» په نوم کتاب لیکلی او د نوموړي حدیث په هکله یې پکې ویلي:  «وأحادیث النهي عن الكتابة كلها من الأباطيل والموضوعات ولم يصحح العلماء واحدًا منها، ما عدا الحاكم وتساهله في التصحيح معروف» . ( ټول هغه احادیث چې د ښځو د لیک د منع په هکله روایت شوي له موضوعاتو څخه دي او باطل دي. له حاکم پرته چې د احادیثو په تصحیح کې، په آسانۍ مشهور دی، علماو پدې اړه هیڅ روایت ته صحیح ندي ویلي.

خطابي په معالم السنن کې ویلي: ځینو د ښځو د لیک د ناروا والي لپاره په دې روایت استدلال کړی، خو په سند کې یې محمد ابن ابراهیم شامي راغلی چې هغه منکر الحدیث او د وضاعینو له ډلې څخه دی.

ابن عدي د هغه احادیث غیر محفوظ ګڼلي.

ابن حبان ویلي: له هغه څخه روایت کول ناروا دي، مګر د هغه د وضع د بیانولو لپاره. همدا راز ابن الجوزي د هغه په اړه وایي: هغه له ځانه احادیث وضع کول.

دوکتور عبدالله الفقیه په ۱۴۲۵/۸/۴ نېټه، په (۵۳۵۷۲) شمېره صادره کړې فتوا کې د دې روایت «علموا النساء الغزل ولا تعلموهن الكتابة» په اړه داسې ځواب ویلی: دا روایت له هر شک او شبهې پرته جعلي دی، او بیا یې د علماو هغه ویناوې رانقل کړي چې ددې حدیث په جعل دلالت کوي.

دویم: له صحیحو شرعي نصوص سره ټکر:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پورتني روايت د استدلال د ناسموالي دويم دليل، د قرآني نصوصو او د صحيحو احاديثو سره د دې روايت ټکر دی، چې ځينې به يې لاندې ذکر کړو:

الله تعالی فرمايي: «اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ * خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ * اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ * الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ * عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ»

( د خپل رب په نوم ولوله چې (ټوله نړۍ) يې پيدا کړې، انسان يې له غوټې وينې پيدا کړی، ولوله! او ستا رب ډېر مهربان دی هغه چې په قلم سره يې ښوونه وکړه، انسان يې په هغه څه پوه کړ چې نه پرې پوهېده).

د آيت روښانه مفهوم او د قلم قرينې ته په کتو څرګنديږي چې له «عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ» څخه مراد کتابت او ليکل دي او دا چې د انسان کلمه نر او ښځې دواړو ته شامله ده، د يوه جعلي حديث په وسيله په نارينه و پورې د هغه محدودول ناسم کار دی. ابن کثير د پورتني آيت په تفسير کې ليکلي: د قرآن کريم لومړۍ نازله شوې برخه همدا د علق سورت لومړني آيتونه دي، دا د الله تعالی لومړی رحمت او لومړی نعمت دی چې الله خپلو بندګانو ته په دې آيتونو کې ورکړی او د انسانانو شرافت او درناوی يې په علم پورې تړلی، خو علم کله په مغزو، کله په ژبه او کله په ليکلو کې وي، يا په بله وينا علم کله ذهني، کله لفظي او کله په ليکنۍ بڼه رابښکاره کيږي، چې ليکنۍ بڼه يې ذهني او لفظي بڼو ته شامله ده خو عکس يې سم ندی. په يوه اثر کې راغلي: «قيدوا العلم بالکتابة» (د ليکلو په مټ د علم ساتنه وکړئ.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲. امام بخاري په (الأدب المفرد) كتاب كې د «باب الكتابة إلى النساء وجوابهن» تر عنوان لاندې باب ايښى او په هغه كې يې داسې روايت كړى:

عن عائشة بنت طلحة قالت: قلت لعائشة وأنا في حجرها وكان الناس يأتونها من كل مصر فكان الشيوخ ينتابوني لمكاني منها وكان الشباب يتأخوني فيهدون إلي ويكتبون إلي من الأمصار فأقول لعائشة يا خالة هذا كتاب فلان وهديته فتقول لي عائشة أي بنية فأجيبيه وأثيبيه فإن لم يكن عندك ثواب أعطيتك فقالت فتعطيني»

عائشه بنت طلحه وايي: زه د عائشې صديقې تر روزنې لاندې وم، خلک به له هر ښار څخه هغې ته راتلل، مشران د عائشې صديقې په وړاندې زما له مقام څخه خبر وو او په نوبت به ماته راتلل، ځوانانو به راسره صميميت ښكاره كولو، ډالۍ او پيغامونه به يې رالېږل. ما به عائشې صديقې ته ويل: اى ترورې! دا د فلاني ليک او ډالۍ ده. عائشې صديقې به راته ويل: ځواب ورته وليكه او د ډالۍ په مقابل كې تحفه ورولېږه. كه درسره نه وي زه به يې دركړم. عائشه بنت طلحه وايي: بيا به يې څه راكړل چې ورويې لېږم.

۳. عن الشفاء بنت عبد الله قالت: دخل عليَّ رسول الله صلى الله عليه وسلم وأنا عند حفصة رضي الله عنها، فقال لي ألا تعلمين هذه رُقية النملة كما علمتيها الكتابة»

شفاء بنت عبدالله ويلي: رسول الله راننوت او زه له حفصې سره وم، رسول الله راته وويل: آيا حفصې ته د دانې (نمله) دعا نه ورزده كوې، لكه څنګه چې دې ليكل ورښودلي.

شيخ عظيم آبادي په عون المعبود كې ليكي: «دا حديث ښيي چې ښځو ته ليكل ورښودل او ليكل كول مكروه ندي».

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا راز د دې خبرې نسبت ابن تیمیه، ابن قیم او خطابي ته هم شوی، په پای کې یې د ملا علي القاري دا خبره په کلکه رد کړې چې د لیکلو جواز یوازې د سلفو ښځو ته و، نه وروستیو ښځو ته.

۴. د رسول الله په زمانه کې به ښځو د نارینه و په څېر له رسول الله څخه دیني او اخلاقي مسئلې زده کولې او رسول الله د ښځو لپاره ځانګړي وختونه ټاکلي وو چې ښځې به پکې د زده کړې لپاره راتللې . د رسول الله مېرمنې او په ځانګړي ډول عائشه د ښوونکو په څېر وې چې نه یوازې ښځو به ترې زده کړه کوله، بلکې نارینه و به هم ترې دیني مسئلې زده کولې او مشرانو صحابه و او تابعینو به ترې تفسیر، حدیث او فقه زده کوله. زده کړه په ازادو او مخورو ښځو پورې محدوده نه وه، بلکې پیغمبر امر کړی و چې وینځې دې هم زده کړه وکړي، لکه په یوه حدیث کې راغلي: «أَيُّمَا رَجُلٍ كَانَتْ عِنْدَهُ وَلِيدَةٌ فَعَلَّمَهَا فَأَحْسَنَ تَعْلِيمَهَا، وَأَدَّبَهَا فَأَحْسَنَ تَأْدِيبَهَا، ثُمَّ أَعْتَقَهَا وَتَزَوَّجَهَا فَلَهُ أَجْرَانِ»

هر څوک چې وینځه ولري، هغې ته په ښه توګه روزنه او تعلیم ورکړي او په ښه توګه ادب ورزده کړي، بیا یې ازاده کړي او واده ورسره وکړي، الله تعالی به دوه اجرونه ورکړي.

له دې څخه جوتیږي چې اسلام د زده کړې په چاره کې د نر او ښځې تر منځ کوم توپیر او امتیاز نه مني او د علم زده کړه په هره ممکنه وسیله چې وي، د ټولو نارینه او ښځینه مسلمانانو دنده ده.

دویمه برخه: د ښځو د لیک او علم زده کړې په اړه د لویو علماوو نظریات

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسلام عالمانو په هر وخت او ځای کې خلک د علومو او فنونو زده کړې ته هڅولي، په اسلامي نړۍ کې د هیڅ مشهور او پیشوا عالم داسې خبره نه تر سترګو کیږي چې ښځې یې له علم او لیک زده کولو څخه محرومې کړي وي. لاندې به د بېلګې په توګه د اسلام د څو مشهورو عالمانو ویناوو ته اشاره وکړو چې د ښځو د لیکلو او علم زده کړې په اړه یې کړي دي:

شمس الحق عظیم آبادي په خپل کتاب«عقود الجمان فی جواز الکتابة للنسوان» کې لیکي: «وخلاصة الكلام أنه لا ريب في جواز تعليم الكتابة للنساء البالغات المشتهيات بواسطة النساء الأخريات أو بواسطة محارمهن، أما البنات غير البالغات وغير المشتهيات فيتعلمن ممن شئن.وليست الكتابة سببًا للافتتان لأنها إن كانت سببًا للفتنة لما أباحها الشارع، (وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا) والتي تصاب بفتنة إنما تصاب بأمر غير الكتاب»

(لنډه خبره دا ده چې بالغو او شهوت ته رسېدلو ښځو ته د لیک زده کولو او لیکلو په جواز کې هیڅ شک نشته، دا ښوونه د نورو ښځو په وسیله وي او که د اقاربو او محارمو په وسیله، خو نابالغې او اشتها ته نارسېدلې انجونې کولی شي له هر چا لیکل زده کړي. لیکل هیڅکله په فتنه کې د غورځېدو سبب ندی، که داسې وای نو شریعت به لیکل مباح کړي نه وو، الله پاک هیڅ نه هیروي، او هغه ښځې چې په فتنو کې غورځیږي، شونې ده چې له لیکلو پرته له نورو لارو په فتنه اخته شي.

۲. ابن خلکان د فخر النساء شهده بنت ابی نصر چې یوه لیکواله ښځه وه او په ۵۷۴ هجري کال کې وفات شوې، د ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اړه ليکي: «كانت من العلماء وكتبت الخط الجيد وسمع عليها خلق كثير واشتهر ذكرها وبعد صيتها»

( هغه له مشهورو عالمانو څخه وه، ښکلی لیک يې لیکلو، زیاتو خلکو ورڅخه (حدیث) اوریدلي او شهرت يې لرې ځایونو ته رسیدلی.

۳. علامه مقريزي په خپل کتاب «نفح الطيب» کې د عائشه بنت احمد قرطبي چې په ۴۰۰ هجري کې وفات شوې، د هغې د ژوند په اړه له ابن حبان څخه نقلوي: «لم يكن في زمانها فى الأندلس من يعدلها علما وفهما وأدبا وشعرا وفصاحة وكانت حسنة الخط تكتب المصاحف»

( د هغې په زمانه کې داسې څوک نه و چې له هغې سره په علم، پوهه، ادب، شعر او فصاحت کې له هغې سره برابر وي، هغې ښکلی لیک درلود او د قرآن کریم مصحفونه يې لیکل.

۴. شيخ عبدالله بن زيد آل محمود وايي: له ليکلو څخه د ښځو د نهي په اړه چې څه ویل کیږي، درواغ خبرې دي چې په پیغبر پورې تړل شوي، علماو په دې اړه تحقیقات کړي او د هغې بطلان يې ثابت کړی، حق خبره دا ده چې ښځه د لیکلو او د ديني او قانوني کتابونو په لوستلو کې د سړي په څېر ده، د حجاب او حيا په رعايت او له پردو سړو سره له اختلاط پرته کولی شي بېلابېل علوم او فنون لکه: عقاید، تفسیر، سیرت، تاریخ، د حدیثو او فقهې کتابونه زده کړي او دا د ښځو له ثابتو حقونو څخه دی چې هغوی د جهالت له تیارو څخه راباسي، هیڅ عاقل انسان دا مسئله له جنجالي او اختلافي مسئلو څخه نه ګڼي.

پایله:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښځو د لیکلو د شرعي حکم په هکله چې څه ولیکل شو،
په لنډه توګه لاندې پایلي راوځي:

1. د «لا تنزلوهن الغرف ولا تعلموهن الکتابة» روایت د سند
له اړخه ثابت او صحیح ندی، او د اصول حدیث او تخریج د
علماوو له نظره موضوعي او جعلي حدیث دی.

نوموړی روایت سربېره پر دې چې سند یې صحیح ندی، د
قرآن او احادیثو له ظاهر نصوصو سره په ټکر کې دی.

عام شرعي نصوص چې د زده کړې د اهمیت په هلکه راغلي،
ښځو او نارینه دواړو ته شامل دي، د ښځو استثناء کول
ورڅخه د فقهي اصولو مخالف کار دی.

زموږ په هیواد کې د ښځو د لیک او زده کړې د مخنیوي لوی
لامل ناپوهي او د اسلامي شریعت له اساساتو څخه ناخبري
او له شرعي حکمونو څخه ناسمه پوهه او غلطه انګېرنه ده.

د اسلام په تاریخ کې زیاتې داسې ښځې تېرې شوي چې د
علم او پوهې تر څنګ یې ښه قلم او لیک درلود او په لیکوالۍ
کې یې ښه مهارت درلود.

په اسلامي نړۍ کې هیڅ مشهور او پیشوا عالم ښځې له
لیکلو او زده کړې ندي منع کړي، بلکې د شرعي نصوصو د
عمومیت په اساس یې زده کړه د نارینه او ښځینه دواړو له
ګډو او مهمو دندو څخه شمېرلی.

7. د شرعي حجاب په رعایت سره ښځو ته د لیک زده کړه
چې د علم او پوهې د زده کړې وسیله ده، شرعا روا ده او د
شریعت له اصولو او احکامو سره مخالفت نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې بنسټ اسلامي حکومت دنده لري چې نارینه او ښځینه دواړو ته د علومو او اړینو مهارتونو لکه لیکلو او نورو فنونو د زده کړې شرایط چمتو او اسانه کړي او د هرې هغې فتنې مخه ونیسي چې د ښځو د زده کړې مخنیوی کوي.

شیر علي ظریفي

■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■

❖ موسکا څه لګښت نلري، خو ډېر شیان منځ ته راوړي
.موسکا بې له دې چې ورکونکی نېستمن کړي،
اخستونکی شتمنوي . موسکا له یوې شېبې ډېره نه
وي، خو کېدای شي یاد یې تر پایه پاتې شي.

هېڅوک دومره شتمن نه شته چې له موسکا پرته ژوند وکړای شي او هیڅوک دومره نېستمن نه دی چې دموسکا له ګټو برخمن نه شي .

موسکا په کورنۍ کې نېکمرغي زېږوي، او په تجارت کې ښه نیت، څکه د دوستۍ اوملګرتوب نښه ده .

موسکا ستړیا لېرې کوي، نهیلي خلک هیله من کوي .

موسکا د ستړیو لپاره د لمر وړانګه ده، د ناراحتۍ د زهرو طبیعي له منځه وړونکې ده، نوځکه موسکا نه خرڅېږي، نه په سوال اخستل کېږي، او نه په غلا لاس ته راځي، موسکا کوم ځمکنی شی نه دی، خو کېدای شي چاته ورکړل شي. هغو شېبو کې چې پلورونکې ډېر ستړی وي او تاسو ته موسکا نه شي کولای، د مهربانۍ له مخې تاسو دا کار وکړئ .

څکه هېڅوک تر هغه چا ډېر موسکا ته اړ نه دي ، چې موسکا نه شي کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوځکه که غواړئ خلکو ته ګران واوسئ دا اصل تل عملي کړئ:

موسکا مه هېروئ .

ستاسو بې لګښته موسکا تر ټولو ګران بیه هدیه ده.

(د دوستۍ لار، د یل کارنیګي)

■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■

❖له افغانستانه د روسانو د وتلو په باب د ښاغلي عبدالمالک بیکسیار دا شهکار شعر درسره شریکوم:

روسان چا وایستل؟

روسان نیم تلې څپلۍ

روسان شلېدلي ګرېوان

روسان پر خړ خیرن واسکټ دپاسه

د سرې زړې خمتا درې کونجه پیوند

روسان د کلي د ماشوم لیندې زموږه له کلا وایستل

او ما لیدل چې روسان چا واېستل .

روسان نهرو ویالو

روسان ګونګي مازیګر

روسان نالوستي ګودر

روسان پر پورې غونډۍ ښخ شهید غاټول واېستل

روسان له دوړو ډک پکول واېستل

ټولې نړۍ ورته کاته چې روسان ډلې ډلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او وارخطا وارخطا
له څرخي پله نه را وچتې شور غوغا وايستل
او ماليدل چې روسان چا واېستل
روسان د ميندو ښېرو
روسان د خويندو ساندو
روسان پېښې يېلې يتيم
روسان له ژونده ناخبره سرګردانه کوچي
روسان د دې خاورې په وينو تاريخ
روسان د دې خلکو بې کچه سپېڅلتيا واېستل
او ماليدل چې روسان چا واېستل
روسان واخان کې د وزلوبې د اسونو دربا
روسان ګومل کې زنګ وهلي پينځه ډزي ټوپک
روسان زموږ د تشو مېنو وهم
روسان زموږه د وچتو غرو بې ژبو تيارو
روسان د دې وطن زيږې غوندې هوا واېستل
او ماليدل چې روسان چا واېستل
روسان يې وچې اېستل،
تابه وې بس ده چې اېستل، تورې جامې
ټيک لکه بخت دوطن
پر اوږه کږی د زړې خمتا موښلی ځادر

(c) ketabton.com: The Digital Library

پایڅو یې داسې تورې وازې وازې خولې نیولې
لکه روسان به توربدل چې له زاړه ټوپک یې
سترګې به خدایرو هېڅ پرې نه مړېدې
ماوې چې ځوارلس به لا نه وي پوره
چا وې قدم چې سپوږمۍ واخلي نو پینځلس به شي
نې ځان روښاندی باله
او نه ملا اېسېده
و دوطن دمور ریښتینی بچی
دازادۍ مجاهد
چې یې داسره دېوان له پولې ددنیا واپستل
او مالیدل چې روسان چا واپستل.

■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■

❖ مهرباني: انساني مکلفیت او وړیا درملنه

انسان د فطرت له مخې داسې جوړ شوی دی چې باید مهربان و اوسي. مهرباني د انسان په بدن کې د اکسي توسین(Oxytocin) هورمون له تولید سره مرسته کوي چې د مهربانۍ هورمون هم ورته وایي او د ذهني فشار یا سترس هورمون(Adrenalin, Cortisol) برخلاف کار کوي.

مهرباني په بدن کې فزیولوژیک او نیورولوژیک مثبت بدلونونه راولي او د دې سبب کیږي چې: ۱). د خوشالۍ احساس وکړو، ۲). بیدار او باهوشه و اوسو، ۳). بدن مو ژر زوړ نه شي، ۴). پوستکی مو روغ او ځلانده وي، ۵). بدن مو په التهاب اخته

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه شي، ۶). د زړه او معافيتي سيستم حجرې مو پياوړې شي، ۷). له رواني فشار او ژرو خفګان بچ پاتې شوو.

مهرباني په هر صورت کې ممکنه ده: ۱). خپلو همنوعانو او حتی نورو موجوداتو سره په راشه درشه کې عملاً مهربانه اوسئ، ۲). تل نورو ته روغتیا، خوښي، سلامتیا او اساني وغواړئ او ذهن، فکر او نیت مو مهربان لرئ.

زموږ سپیڅلی دین د مهربانۍ په کولو او باور تر هر څه زیات ټینګار کړی دی. مننه، بخښنه، صله رحمي، رحم او همدردي هم د مهربانۍ ډولونه دي.

مهرباني یوه الهي تحفه ده، تل یې خپل عادت کړئ!

■■■■■■■■■■

❖ د مورنۍ ژبې نړیوالې ورځې په بهانه

پښتو ژبه، پښتونولي او د پښتنو سیاسي حقوق باید سره جلاـ جلا وڅېړل شي.

پښتو د نورو ژبو په شان د الله جل جلاله د قدرت یوه نښه او د پوهاوي یوه وسیله ده. د بلې هرې ژبې په شان د بشریت د ګډ کلتوري میراث یوه برخه ده چې د بشری شریک عقل او فرهنګی میراث یوه لویه برخه یې خوندي کړې ده. په مورنۍ ژبه زده کړې، اطلاعاتو ته لاسرسی، خپل ځان او خپل فکر بیانول او ژبنی هویت ساتل بشري حق دی چې د ټولو ژبو د ویونکو په شان پښتنو ته هم باید محفوظ وي.

د سیاست د الې په توګه او یا د امتیاز اخیستو لپاره د پښتو ژبې کارول روا کار نه دی او افغانستان او په ځانګړي ډول پښتنو ته تاوان لري. پښتانه په افغانستان کې د مشر ورور په موقف کې دي، سیاسي شعارونه او کړنې یې باید افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

شموله وي او په خپلو سیاسي پروګرامونو کې باید لوی ملي او اسلامي، تاریخي، ټولنیز، اقتصادي او کلتوري مسایل شامل کړي، چې ټولو افغانانو ته پرې قناعت ورکړای شي. البته باید دا هر څه په ربښتیا وړاندې کړي او په ربښتیا د ټولو افغانانو ستونزو ته د حل نسخه ولري، ځکه صداقت تر ټولو بریالۍ پالیسي ده.

پښتو د یوې عنعنې په توګه یوه بیله مسئله ده چې مور ورته پښتونولي هم وایو او پکې ننګ، غیرت، ناموسداري، مروت، روداراي، عفوه، انتقام، جرګه، ننواتې او نور ډیر مسایل راځي. دا مثبت رواجونه تر زیاته حده د افغانستان په نورو قومونو او حتی نورو ملتونو کې هم په یو ډول شته. البته د ټولنیزو اړیکو او ټولنیز ـ اقتصادي ژوند د بدلون سره پدې تعریفونو او د عملي کیدو په ډول کې یې بدلون راځي او پښتانه باید دې ته متوجه وي چې د پښتونولۍ اصول د وخت او زمانې له پرمختګ او بدلون سره سم عیار کړي. ځکه هغه څه چې د زمانې له توند مزل سره نشي تلای، له منځه ځي.

د مورنۍ ژبې په باب مې ځانګړی پیغام دادی چې: راځئ خپله ژبه زده کړو ووایو، ولیکو او ماشومانو ته پرې زده کړې برابرې کړو. نورې ضروري ژبې (دري، عربي، انګلیسي ....) هم زده کړو او د نړۍ پاتې ټولو ژبو ته درناوی وکړو.

■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■

## ❖ ملي اصطلاحات او عام لغتونه:

د ملي صطلاحاتو موضوع د څو ساده لغتونو بحث نه دی، بلکي د ملت ـ دولتونو د پیژندنې لپاره یوه ضروري مولفه ده. انګلیسان هغه ژبني تفاوتونه د خپل تشخص لپاره ساتي چې له امریکایي انګلیسي سره یې لري. تاجکستان په ایران کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړ شوي نوي لغتونه په ډېر ندرت سره مني. یو وخت عثماني ترکانو خپله دفتري ژبه دري کړه، صفوي ترکانو د هغوی سره د تشخص په خاطر دفتري ژبه ترکي وټاکله. (البته پروسه بېرته ژر معکوسه شوه).

په افغانستان کې هم د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د واک په دوره کې د دولت د رسمي ژبې په توګه د دري ژبې په دوام توافق وشو، او په څنګ کې ورسره پښتو ژبه هم رسمي ژبه شوه. په عین وخت کې یو څه لغتونه د ملي صطلاحاتو په نوم غوره شول. (ځینې ملي اصطلاحات د امیر شیر علي خان د واکمنۍ پر مهال هم جوړ شوي وو).

د ملي اصطلاحاتو د ټاکلو، تثیب او ساتلو لپاره باید یوه ملي کمیټه یا بورډ جوړ شي چې د دوی له خوا وړاندیز شوي لستونه د کابینې له خوا تایید او د پارلمان له منظور شي.

البته د ملي اصطلاحاتو په لست کې باید د هیواد د ټولو ژبو لغتونه شامل وي چې د هیواد فرهنګي غنا او تاریخي لرغونتیا وځلوي.

همدا راز د ټولو ژبو پراختیا ته باید جدي پام وشي. د ټولو ژبو ماشومانو ته د یو بشري حق په توګه باید په مورنۍ ژبه زده کړه برابره شي او ټولو ژبو ته ژور درناوی وشي. د بشري ګډ عقل د ذخیرو او د انسانانو تر منځ د پوهاوي د وسیلو په توګه باید د ژبو د ودې لپاره علمي کار او پالیسي ملاتړ برابر شي. د هیواد د ټولو خوږو ژبو اثار دې نه یوازې دا چې ضایع نه شي، بلکې په ډېر ښه ډول دې وساتل شي.

■■■■■■■■■

❖ د روژې مبارکې میاشتې په درنښت:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مسلمان په توګه باید زموږ ټولې اړیکې د خیر او ښه نیت پر بنسټ وي:

له الله تعالی سره مو باید اړیکه د بنده ګۍ، عبادت، مینې، هیلو او ویرې وي.

له همنوعانو (انسانانو) سره مو باید اړیکه د تعاون، توصیې، کرم، انفاق، مینې او مرستې وي.

له نورو ژوندیو موجوداتو سره مو باید اړیکې د رحم وي.

له طبیعت او جهان سره مو باید اړیکه د جوړښت او عمران وي.

په مبارکه روژه کې د ثواب تر څنګ د روژې له صحي ګټو برخمن شئ خو په غیر صحي خوړو دا ګټې له منځه مه وړئ:

لومړی، ګټې:

د بدن د معافیتي سیستم او مقاومت زیاتوالی

د التهاب (پړسوب او درد) کموالی

د میکروب ضد حجرو زیات تولید

د بدن د مایکروبیوم (ګټورو میکروبونو) تقویه

د رواني فشار، تشویش او اضطراب کمښت او په مقابل کې یې مقاومت زیاتیدل

د دفاعي حجرو د عمر اوږدیدل

د اکسداتیف فشار او ازادو رادیکالونو کمیدل

د بدن د تخریب شوو برخو بیرته ژر ترمیم

دویم. په روژه کې غیر صحي خواړه چې دغه ګټې کموي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مجموعه کې ټول سره کړي خواړه

پیزا

چپس

برګر

ساړه شربتونه او انرژي ګانې

پکوړې، سمبوسې او دوی ته ورته خوراکونه.

د دي مضرو خوړو په عوض هر ډول ترکاري، هر ډول میوې، حلالې غوښې، د لوبیا او دالو بېلابېل ډولونه، شیدې او د شېدو محصولات (مستې، پنیر، کوچ ....)، وریجې، سبوس لرونکې ډوډۍ او پاکې طبیعي اوبه ښه دي. البته که روژه ماتی په تږمو اوبو وشي، معدې ته زیاته ګټه لري.

●●●●●●●●●●●

❖ د غازي امان الله خان د اونۍ په مناسبت:

دوه کارنامې او دوه پوښتنې:

دا څرګنده ده چې د غازي امان الله خان دوه کارنامې بې سارې دي:

لومړی. له داسې زبرځواکه یې د هیواد استقلال واخیست چې د ټولې نړۍ تر ټولو پیاوړی ځواک وو او تر حاکمیت لاندې خاوره کې یې لمر نه ډوبېده.

دویم. هیواد یې د قانون حاکمیت او پرمختګ ته روان کړ.

خو دا دوه پوښتنې بې طرفه، له امان الله خان سره له عاطفي پیوند پرته په سړو مغزو او د راتلونکي لپاره ترې د درس اخیستو په نیت ځواب غواړي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی. ولې امان الله خان د اروپا تر سفر مخکې له ملت سره همرنګه وو، د جمعې خطبه یې ویله او د واک د مثلث درې واړه ضلعې (ملا یا دیني عالم، ملک یا قومي مشر او دولت) ورسره ملګري وو. ملت ورسره وو، پر ملت له حده زیات ګران وو، ویاړ یې پرې کاوه، ورته یې غازي او بابا وایه؛ خو د اروپا (او نورو هیوادونو) تر شپږ میاشتني سفر وروسته ترې د هیواد دثبات د مثلث درې واړه ضلعې کاواکه شوې او نظام وشړیده.

دویم. ولې زموږ د مشرانو د دریم نسل (زیاترو واکمنو واک بایلی دی:

میرویس نیکه واک ګټلی، شاه محمود ساتلی او شاه اشرف او شاه حسین (دواړه همزمانه په اصفهان او کندهار کې واکمنان وو) بایللی دی.

احمدشاه بابا واک ګټلی، تیمورشاه ساتلی او لمسیانو یې بایللی دی.

امیر دوست محمد خان واک ګټلی، شیرعلی خان ساتلی او محمد یعقوب خان بایللی دی.

امیر عبدالرحمن واک ګټلی، حبیب الله خان ساتلی او غازي امان الله خان بایللی دی.

غازي محمد نادر شاه واک ګټلی، اعلیحضرت محمد ظاهرشاه ساتلی او ولسمشر محمد داود بایللی دی.

●●●●●●●●

❖ د یو مسلمان لپاره چې قرآن کومې دندې ټاکلي دي، لنډیز یې دوه خبرې دي:

اول. عبادت یا له خالق سره وصل کیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم. له همنوعانو او د خدای له ټول مخلوق سره مرسته

د روژې په دې وروستیو دوه ورځو کې، که مو له وسه کیږي، یبوزلو خپلوانو او ګاونډیانو سره مرسته وکړئ.

لومړۍ دنده په حقیقت کې یو امتیاز دی چې سکون او اطمنان درکوي، اصلي ازموینه همدا دویمه ده!

د عام ولس پام بل خوا اړول

حکومتونه له اصلي مسایلو د پام اړولو لپاره ځینې کارونه کوي.

د بیلګې په توګه څو لسیزې مخکې زموږ په ګاونډ کې د اسلام په شعار یو  حکومت جوړ شو. ولس ته د لویو وعدو د پوره کولو د بې وسۍ له امله مجبور شو فرهنګي مفکرینو ته ووایي چې د ښځو د حجاب او دغه شان نورو مسایلو په باب پالیسۍ جوړې کړي چې دوی پر خپلو اصلي پروګرامونو کار کولو ته وخت پیدا کړي. ۳۰ کاله مخکې په افغانستان کې هم په همدغه ډول یو نیم بنده حکومت د ځینو پراختیایي کارونو د پیل اعلانونه وکړل، کله چې ترې وپوښتل شول چې ولې درواغ وایي، د یو مشر ځواب یې دا وو چې پدې دروغو یوازې ستا په شان د ګوتو په شمار کسان پوهیږي، عام ملت پرې باور کوي.

اوس بیا شل کاله مخکې له صحنې ویستل شوی امارت راغلی او ټول فرمانونه یې د ښځو په باب دي چې د دین له اصلي احکامو سره کوم اړخ نه لګوي. دا هم د یوې سیاسي ډلې واکمني ده. دوی ته خپل نظر کسان مهم دي، او هغه څه کوي چې د هغوی ملاتړ پرې ساتلی یا لاس ته راوړلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو، ولس دې په دوامدار او سیستماتیک ډول؛ د مشروع او مدني لارو د خپلو انساني حقونو د تأمین غوښتنو ته دوام ورکړي.

■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■

❖ د ملتونو عروج او زوال:

ملتونه په زرونو او لسګونو زرو کلونو ژوند کوي او د عروج او زوال دورې پرې راځي. په دغه عروج او زوال کې شخصیتونه د سیند د څپو (موجونو) په شان متمایز او ښکاره وي.

عموماً بدلونونه د ژورو او پیچلو (کورنیو او نړیوالو) ټولنیزو، کلتوري، اقتصادي، جیوپولیټیکي، تاریخي، محیطي، اقلیمي او نورو عواملو محصول وي، خو ځینې نیکمرغه یا بدمرغه انسانان یې د مسؤولینو په توګه په تاریخ کې ثبت شي.

زموږ او تر موږ تېر نسل هڅې او کړنې د افغانستان د پرمختګ په برخه کې بریالی نه شوې خو تر هر انقلاب وروسته یوه ویښتیا راځي او ډاډه یم چې زموږ راتلونکی نسل به د نړۍ د پرمختګ له چټک کاروان سره مل شي.

راځئ د باور او یووالي تخم وکرو، او ټول د نوي نسل پر روزنه تمرکز وکړو!

غرونه لا هماغسې هسک دي او زړونه لا هماغسې تپیږي!

ګمان مبر که به پایان رسید کار مغان ---- هزار باده ناخورده در رګ تاک است.

■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■

❖ روڼ اندو او لوستو کادرونو ته یوه مشوره:

(c) ketabton.com: The Digital Library

له څو کلونو راپدې خوا افغانان په مجموع او پښتانه په ځانګړي ډول په ستونزو کې ګیر دي. خو زموږ (ځینې) روڼ اندي او لوستي کادرونه بیا ځان له دوی بېل د خیر په یوه لوړه غونډۍ ناست ګڼي او ملت او قام ته نصیحتونه کوي، کنایې ورته وایي او پیغورونه ورکوي. مثلاً وایي:

نړۍ داسې او داسې شوه خو پټان! پټان لالا .... دې خدای پوه کړي!

ټوله نړۍ پوه شوه خو زموږ خلک به کله پوهیږي!

موږ تر دې په ښه حالت کې وو، اوس ولې داسې شوو؟

چې دا ولې زموږ ملت بیدار ملت نه دی! او کله بیداریږي؟

دا ډول خبرې دا معنی لري چې هر څه ګل و ګلزار وو، خپله دې ښاغلي/ اغلې هم خپل ټول مسؤولیت اداء کړی دی، خو ملت او خصوصاً پښتون (چې دوی ورته له استهزاء پټان وایي) ملامت دی.

د هرې ټولنیزې پدیدې ډیر زیات علتونه وي چې ځینې داخلي او ځینې بهرني وي. په مجموع کې زیاتره داخلي علتونه مهمتر وي، خو کله کله بهرني فکټورونه دومره پیاوړي وي چې ټول تدبر او تعقل یې هم مخه نه شي نیولی، لکه یو ناخاپي لوی تندر، ناپیشبینی شوی سیلاب، ناڅاپي وچکالي او یا د یو ځبرځواک یرغل.

زما وړاندیز لوستو او زړه خوږو دوستانو ته دا دی چې په خپلو لیکنو کې ځان له ملت څخه بېل نه کړي او د خیر له یوې لوړې غونډۍ ورته لارښوونې او یا پیغورونه ورنکړي، بلکې ستونزې په دې ډول مطرح کړي چې علتونه یې مشخص، مستدل او پر شواهدو ولاړ تشریح او د حل لارې ورته وړاندیز کړي. یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنيزه کتله (ډله، ګروپ، قام، ملت، دين، تمدن ...) په سپک ډول يا کنايه اميزه ژبه يادول باادبه کار نه دی.

ښه ده چې ستونې راوسپړو، حل لارې ورته وړانديز کړو خو، ملت بايد په هر حال کې دروند، پتمن او عزتمند ياد کړو.

د پښتنو کوڅې خو داسې بې ايمانه نه وې

داسې بې ژونده نه وې داسې بې جانانه نه وې

■■■■■■■

❖ که د يو چا عمل د اصلاح وړ وي نو وسه وسه به په نرمه ژبه، حکمت او موعظه ورسره برخورد کيږي. په قرآن کريم کې د بيلابيلو حالاتو د خبرو لپاره قَوْلًا بَلِيغًا، قَوْلًا مَعْرُوفًا ، قَوْلًا سَدِيدًا، قَوْلًا بَلِيغًا، قَوْلًا كَرِيمًا، قَوْلًا مَيْسُورًا، قَوْلًا لَيِّنًا، کليمې ذکر شوي دي. د هر چا سره به د هغه د شان سره سم له دغو طريقو په يوه خبرې کيږي، توهين، سپکاوی او رټل زموږ د کلتور او دين سره مطلق په ټکر کې عمل دی، پّ خاص ډول د سپينږيرو او مشرانو.

د انسان کرامت او عزت له تيري او سپکاوي محفوظ دی او د شريعت له پنځه لويو مقاصدو څخه يو مقصد دی.انسان تر هغه له ګناه بري دی تر څو پرې مسؤولې او باصلاحيته محکمې د جرم د ثبوت په صورت کې د سزا پريکړه نه وي کړې. سزا به هم د انساني کرامت په حدودو کې د ټاکل شوو مسؤولينو له خوا تطبيقيږي.

■■■■■■■■■■■

❖ دې ورځو کې پاکستان ته د سکرو د صدور پر موضوع ګرم بحث روان دی. تعليميافته ځوانان انديښنه لري چې سکاره د نورو طبيعي زيرمو په شان د ټول ملت شتمني

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده او يوه ډله يا اشخاص يې د نامسؤولانه خرخولو حق نه لري. بل لوری وايي چې د هيواد چلولو لپاره دوی مجبور دي صادرات ولري او د سکرو قرارداد د پخواني حکومت له خوا شوی و، چې اوس يې دوی له اصلي قرارداد څخه نرخ يو څه لوړ کړی او قرارداد ته دوام ورکوي. د اقتصاد يو متخصص وايي چې په نړۍ کې نرخونه تر دې هم لا زيات لوړ شوي دي او د نرخ هغه زياتوالی چې اوسنۍ اداره يې ادعا کوي کافي نه دی. له بلې خوا د پاکستان لومړی وزير وايي چې دوی له دې قرارداد څخه په يو کال کې دوه بيليونه ډالر ګټه کوي.

د انتقادي تفکر (Critical thinking) د اصولو پر اساس اوس د دې اړتيا ده چې موږ لومړی موضوع داسې وڅېړو چې څه شوي دي؟ دلايل او شواهد شته چې حققيت راڅرګند کړي؟ دغه دلايل او شواهد که تحليل شي، نتيجه به يې څنګه وي او د کوم لوري ادعا به ثبوت کړي؟

زه د دې ډول قراردونو، نړيوالو نرخونو او تعاملاتو په برخه کې متخصصو ملګرو ته وړانديز کوم چې لاندې پوښتنو او نورو اړخونو ته چې دوی پرې په تخصصي ډول ښه پوهيږي، ځواب ورکړي او لوستو افغانانو او مدني فعالانو ته په دې برخه کې د معقولې لارې لارښوونه وکړي.

ايا دا قرارداد په رښتيا د تېر نظام په وخت کې شوی وو؟

هغه وخت د دغه قرارداد شرايط څه وو؟

اوس په قرارداد کې کوم بدلونونه راغلي دي؟

آيا پاکستان پدې قرارداد کې رښتيا هر کال دوه بيليونه ډالر ګټه کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

که پاکستان دوه بیلیونه ډالر ګټه کوي، د ټول قرارداد بیه څومره ده؟ او افغانستان ته ترې څومره پاتې کیږي؟

آیا پاکستان پخوا سکاره له کوم هیواده اخیستل؟ څومره سکاره، په کومه بیه؟ د ترانسپورت بیه یې څومره وه؟ له افغانستانه د سکرو د اخیستو له نرخ او لیږدبیې سره څومره تفاوت لري؟

د دې سکرو ضرورت د هیواد په دننه کې څومره دی؟ او

که د افغانستان د ډېرو سکرو خپلې ذخیرې خلاصې شي، موږ ورته کوم بدیل لرو؟

ایا قرارداد یې په کلدارو دی؟ که داسې دي، دې برخه مې نړیوال نورم څه دی؟ عواقب یې موږ ته څومره تاواني دي؟

د دې پوښتنو تر ځواب وروسته کیدای شي یو داسې منظم پروګرام جوړ شي، چې هم له اوسني نظام، هم له ملت او هم له نړیوالو مسؤولو ادارو سره یوه منظمه اډوکسي وشي او پرې نښودل شي چې حریص ګاونډی په سخت وخت کې افغانستان له خوږ ګوتې ونیسي او منابع یې تالان کړي،

دا منابع یوازې زموږ د نسل نه دي، د راتلونکو نسلونو حق پکې تر موږ زیات دی!

■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■

❖ زموږ په نسل کې د افغانستان دولتونه ژر ژر بدل شول. دوستان زیاتره د واکمنو او دورو ارزونه د قومي، ژبنیو، مذهبي، ګوندي سمتي او نورو اړخونو له مخې کوي چې زیاتره منصفانه نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې باره کې باید لومړی پرنسیپ دا وي چې تېر اشخاص خصوصاً مړه شوي کسان سپک یاد نه شي؛ ځکه دا معقول، بامروته او اخلاقي کار نه دی او هغوی اوس د خدای لور ته ورغلي دي.

دویم پرنسیپ باید دا وي چې د تاریخي دورو او اغیزناکو اشخاصو او کړنو ارزونه باید یوازې د عبرت او ورځخه د زده کړې په نیت وشي، نه د تفاخر، ځان لوړګڼلو، نورو سپکولو او عقدو سپړلو.

دریم پرنسیپ باید دا وي چې د منصفانه قضاوت کولو لپاره باید هر شخصیت او هره دوره د وخت او زمان په تله کې د مشخصو شاخصونو له مخې وڅېړل شي. په دې صورت کې د هر شخصیت او دورې برياوې او ناکامۍ مشخصيږي.

زه یو څو شاخصونه وړاندیزوم او له دوستانو هیله کوم چې دالست تکمیل او تعدیل کړي او هغه موارد په نښه کړي چې غیر ضروري او یا هم کم اهمیته دي. وروسته به د متخصصو دوستانو سره په مشوره یو واحد لست ترې جوړ شي چې له مخې به یې بیا موږ په اسانۍ معلومولی شو چې کوم واکمن یا شخصیت په کومه دوره کې هیواد او ملت ته څومره ګټه او څومره ضرر رسولی دی. (البته دا شاخصونه د هرې دورې او هر شخص په باب نه شي راټولیدی، خو لږ تر لږه د شلمې پیړۍ د مشرانو او دورو په باب یې راټولول، ارزول او نتیجه ترې راایستل ممکن دي).

د لومړۍ سطحې مهم مسایل:

موجوده جغرافیه ساتل

ملي حاکمیت ټینګول

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل هیواد او خلک د بهرنیانو له برید او یرغله ساتل

هیواد او ملت پخپله خاوره د بهرنیانو له نیابتي جګړو ساتل

خپل خلک نه شکنجه کول او نه وژل

د هیواد تصویر او نفوذ په سیمه او نړۍ کې پراخول او ښه کول

د ملت او دولت واحد هویت تقویه کول او ساتل

دولت جوړول، ساتل او ټینګول

د هیواد د خلکو، خاورې او نظام د بقا او دفاع لپاره د بهرنیو خطرونو د مقابلې وړتیا جوړول او ساتل

د هیواد په پولو کې د مخالف ستر ځواک او یا یو ناکام دولت له خطرونو ځان ساتل.

د هیواد د ملي منابعو ساتل، پر خپل وخت استخراج او د ملت د نیکمرغۍ لپاره ترې مثمره او موثره استفاده.

د هیواد د ملي ګټو سره په سمون کې له نږدې او لیرې هیوادونو سره معقول خارجي سیاست ټاکل او ورته دوام ورکول.

د هغو نړیوالو قوانینو د منلو حمایه چې له سوله ایزو لارو د لانجو د حل پلوي کوي.

هیواد له انزوا راایستل او بحر او وچې ته لارې ازادې ساتل.

د نوې جغرافیې تر لاسه کول (دا شاخص د معاصرو واکمنو لپاره ډېر صدق نه کوي، ځکه اوس د ملګرو ملتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سازمان او متعدد نړیوال تړونونه شته او هیوادونه په اسانۍ د نورو سیمې یا خپلې پخوانۍ سیمې نه شي نیولی).

د هیواد لپاره د داسې متحدینو غوره کول او ساتل چې اړیکي مو د متقابلو ګټو، متقابل باور او متقابل درناوي پر بنسټ وي او د افغانانو او هیواد په خیر وي.

د ټولنیز عدالت په رڼا کې ملي یووالی ساتل.

په یوه مناسب فرصت او مناسبه بیه د مهمو جغرافیوي لانجو اداره او پای ته رسول او د هیواد طبیعي او سیاسي پولې یو کول.

نظامي تکنولوژي، تجهیزات، مهارت او سیستم تر لاسه کول، تقویه کول او ساتل.

ګاونډیو هیوادونو ته د افغانانو د کتلوي مهاجرت مخنیوی.

له نورو هیوادونو څخه هغه فرصتونه اخیستل چې زموږ پر ضد له ورانکارو ډلو او اشخاصو څخه کار واخلي.

د بشري حقوقو، متوازن انکشاف او ټولنیز عدالت تأمین.

د نظام د داسې سیستم جوړول او ساتل چې د ولس اراده پکې تمثیل شي.

داخلي کش مکشونه، محرومیتونه او تفاوتونه کمول، کنټرولول او له منځه وړل.

د قومونو، سیمو، فکرونو او ډلو د حقوقو رعایت او په منځ کې یې مساوات، تناسب او توازن ساتل.

په نړۍ کې د نیکمرغۍ، سولې او امن ملاتړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هر ځای کې د پرمختګ او عدالت له داعیې ملاتړ .

ټولو ملتونو ته د مستقلو هیوادونو او ځمکنۍ بشپړتیا د ساتنې د حق د دفاع اصل منل.

په ټوله نړۍ کې د فقر، نا امنۍ او بې ثباتۍ په له منځه وړلو کې اخلاقي، مالي او عملي مرسته کول.

ټولنیز اتحاد ټینګیدل

اقتصادي حالت ښه کیدل (عمومي عاید)

د فرد کلنی خالص عاید زیاتیدل

مدني ازادي ګانې زیاتیدل

دژوند حیاتي توقع لوړیدل

د میندو مړینې کمیدل

د ماشومانو مړینې کمیدل

د نوو زیږیدلیو د مړینو کمیدل

د ناروغییو د سیر کمیدل

په ټولنه کې د ښځو ګټور ګډون زیاتیدل

د چاپیریال ابادیدل.

د دویمې سطحې مهم مسایل:

د قانون او پالیسیو جوړول

د ولس تصمیم نیولو د واک اصلاحات

د عدالت لپاره ټولنیز عمل رامنځ ته کیدل

سلوک اصلاح کیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

موثريت او مثمريت لوړيدل

مرتبط والی ښه کیدل

تداوم رامنځ ته کیدل

د کړنو شفافیت او عمل ښه کیدل

د دولت مسؤولیت زیاتیدل

د دریمې سطحې مهم مسایل:

پوهه زیاتیدل

نظریات رامنځ ته کیدل

مهارتونه ایجادیدل

ذهنیت ښه کیدل

د پروسو شفافیت او اسانوالی ښه کیدل

د ملت د هیلو، روحیې او باور ښه کیدل

د څلورمې سطحې مهم مسایل:

د پول او پلچک جوړول

د پوخ او خام سړک جوړول او رغول

زده کوونکي له ښوونځیو او پوهینځیو فارغول

ښوونکي روزل

مسلکي کادرونه روزل

کلنیکونه جوړول

ښوونځي جوړول

(c) ketabton.com: The Digital Library

تولیدات لوړول او مواد تیارول

پالیسي ګانې جوړول

سیستمونه جوړول

ریفورمونه جوړول

د ژبې اهمیت او د کارولو تفاوت

انسان تر نورو ژوندیو موجوداتو د ځینو برترو قابلیتونو په لرلو عالي دی چې مهم یې دا دي:

لومړی. د تفکر، تصور او تخیل قابلیت چې د هغه پر بنسټ نوښت، ایجاد، کشف او اختراع کوي.

دویم. د تعاون او ګډ کار قابلیت چې د هغه پر بنسټ کلي، ښارونه، هیوادونه؛ کورنۍ، قوم، قبیله، ملت؛ دیره، جرګه، شورا، اداره، دولت او تمدن جوړوي.

دریم. د ژبې یا بیان قابلیت چې د هغه پر بنسټ خپل فکرونه او نظرونه په منظم ډول نورو ته لیږدوي. البته د ژبې فرعي قابلیتونه لکه اوریدل، وینا کول، لیکل، لوستل، د مفهوم لیږدونې بدني حرکات هر یو مهم دی.

■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■

❖ ژبه او وینا ډیرې باریکۍ لري او یوه خبره په هر ډول کیدای شي. د هر چا د علم، معلوماتو، ذوق، فکر، اړتیا او حالت له مخې خبرې باید وشي. لاندې مثال د مڼې په باب یو پیغام په دوه بیلو الفاظو او ډولونو لیږدوي:

دا  مڼه ډیره ښکلې، خوشبویه او تازه ده؛ ډیره ګټوره هم ده. هره ورځ یوه تازه او پاکه مڼه وخورئ. الله تعالی امر کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ټول پاک او حلال شیان وخورئ او د خپل بدن حق پوره کړئ. په خواصو، کیفیت او نورو جزیاتو کې یې تدبر، تفکر، تفحص او څیړنې هم کولی شئ او له مربوطو پوهانو مشوره او لارښوونه هم اخیستلای شئ.

دا منه ده. سوډیم، انټی اوکسیډانټ، لوړ فایبر، ویټامین سی او څو نور ویټامینونه لري. له انرژۍ او اوبو بډایه میوه ده چې تاسو ته د راحت احساس درکوی. په منو کې نور مهم غذایي مواد لکه ویټامین کا ، پوتاشیم ، مس، منګنیز او مګنیزیم هم شته. منه د غذایی فایبر غوره سرچینه ده او یوازې د ورځنی فایبر ۱۲ فیصده اړتیا برابروی. منه د فیټوناټ او فلاونوئید لکه کوئرسین ، اپیګېسین ، فلورایډین او نورو پولیفنیکو ترکیبونو څخه بډایه ده.

اوس تاسو ووایاست چې کوم پراګراف ښه دی، کوم یو سم دی او کوم یو د کومو خلکو لپاره دی؟

■■■■■■■■■■■

❖ کله چې لوی څواکونه وغواړي یو کوچنی هېواد بې ثباته کړي، په داخل کې یې بې اتفاقه کوي. د افغانستان بې ثباتي هم د شاهي کورنۍ په منځ کې له اعلیحضرت محمد ظاهر شاه سره د ده د تره د زوی او اوښي سردار محمد داود له اختلافه پیل شوه. سردار محمد داود له وطن سره اورنۍ مینه درلوده او د صدارت پر مهال یې ښه خدمتونه کړي وو، خو د قدرت یوه لیونۍ مینه هم ورسره وه.

روسانو د لوی پطر او لینن له وخته پلان درلود چې ځان ګرمو اوبو ته ورسوي، او د افغانستان مسیر یې تر ټولو اسانه او لنډه لار ګڼلې وه. کله چې شوروي اتحاد تشخیص کړه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان د موسی شفیق د صدارت پر مهال اقتصادي خپلواکۍ او له ګاونډیانو سره د مسایلو د حل پر لور مثبت ګامونه واخیستل، نو سردار محمد داود یې د پرچمیانو له خوا کودتا ته ولمسوه او هغه هم په ناسنجول شوي ډول دغه ناسم او تباه کوونکی اقدام وکړ.

اعلیحضرت محمد ظاهر شاه پخوا څو ځل د سردار محمد داود له لوري د کودتا د هڅو اطلاع اخیستې وه او ده ته یې ویلي وو چې که کودتا دې وکړه نه به ته پاتې شې، نه زه او نه افغانستان. سردار محمد داود پر قرآن ورسره لاس ایښی و چې کودتاه نه کوي. خو متاسفانه کودتا یې وکړه او هیواد یې له هغه ثباته بې برخې کړ چې تر مودو وروسته د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه په حکیمانه سیاست تر لاسه شوی و.

سردار محمد داود د افغانستان عنعنوي بې طرفه بهرني سیاست د شوروي پر لور متمایل کړ چې مرستې تر لاسه او د پاکستان مقابلې ته چې د امریکا او انګلستان له پوره ملاتړه برخمن وو، ځان تیار کړي. د دې لپاره یې ډېر ښه انکشافي پلانونه جوړ کړل خو کوم عمده کار یې عملي نه کړای شو، ځکه شوروي اتحاد ورسره وعده شوې مرسته ونکړه. له بل لوري یې د افغاني ټولنې د ثبات طبیعي او عنعنوي مثلث چې له ملا (روحاني مشر)، ملک (قومي مشر) او دولت څخه جوړ وو کمزوری کړ. د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د واکمنۍ په وروستۍ لسیزه کې جوړو شوو ګوندونو کې یې یوازي د خلق دموکراتیک شوروي پلوه گوند د پرچم ډله خوا کې ونیوله خو د همدغه گوند د خلق ډله، اسلامپاله ډلي او ملي ګرا ډلې یې له ځانه وشړلې. همدا راز په ملکي او نظامي برخو کې یې پیاوړي ملي کادرونه له صحنې وایستل او د پرچمیانو د ناسمو معلوماتو پر بنسټ یې د خپلو ځینې نږدې ملګرو په شمول

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهم ملي شخصيتونه بنديان او شهيدان کړل. همدا وو چې په داخل کې يوې وړې ډلې او په بهر کې يوازې يوه هيواد ته پاتې شو.

که څه هم په وروستيو مياشتو کې متوجه شو خو بيا يې هم د تدبر پر ځای عجولانه اقدامات وکړل او په منډه له شرقه د غرب پر لور متمايل شو او له خپلې داخلي متحدې ډلې او يوازني بهرني ملاتړي سره هم ټکر شو.

همدغې سياسي بې توازنۍ او عجولانه تصاميمو بلې خونړۍ کودتا ته لار خلاصه کړه چې د سردار محمد داود او د ده د کورني د ۱۸ تنو لويو او وړو د مظلومانه شهادت سبب شوه او وروسته د شوروي اتحاد يرغل ته لار پرانستل شوه چې عواقب يې زموږ ملت تر اوسه زغمي.

په هر صورت، مظلومانه شهيد شوی دی، خدای دې ورته بخښنه او مغفرت وکړي.

■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■

## ❖ ملتونه او جګړه

جګړه د انسانانو تر ټول بد خوی دی خو لا تر اوسه د سياسي هدفونو د لاس ته راوړلود يوه بديل (خو وروستي بدل) په توګه کارول کيږي.

هوښيار ملتونه خپل کور د جګړو په ډګر نه بدلوي. پردۍ جګړې په هيڅ صورت خپل کور ته نه راوړي، خو که خپله جګړه يې هم وي، د دښمن په کور کې يې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جګړو بل اصل دا دی چې که هیڅ چاره ترې نه وي، نو پر دښمن هغه وخت برید کوي، چې هغه لا ځان نه وي تیار کړی.

هوښیار ملتونه له زورورو (سترو ځواکونو) یا لیرې ګرځي یا غلي.

هغه ملتونه چې اوږده کلونه د بل تر واک لاندې وي، فرصت ته ګوري او کله چې لوی قوت کمزوری شي، بیا د خپلې ازادۍ جنډه اوچتوي. بې له وخته ځان د مست هاتي (فیل) پښو ته نه غورځوي. خو خطر اخیستونکي او سرزوري ملتونه د دریاب د اوبو سرچپه لامبو وهي.

افغان مشران باید داسې ستراتیژي جوړه کړي چې هیواد لږ تر لږه سل کاله په کومه جګړه کې ونه ښلي.

■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ♤♤♤■■■■

❖ انسانِ کرامت له تیري او توهین محفوظ دی

هیڅوک حق نه لري چې پر انساني کرامت او نجابت تیری وکړي. د ښځو د عزت او حرمت ساتل بیا ځانګړې پاملرنه او دقت غواړي. د نړۍ ټول تمدنونه او دینونه دا ارزښتونه تاییدوي. په اسلام کې د انساني عزت ساتل د شریعت له پنځه اساسي مقصدنو څخه دی. همدا راز پر پاکو میرمنو او نجونو د تهمت کوونکو لپاره سخته سزا ټاکل شوې ده.

د لوړو زده کړو وزیر ته باید واضح شي چې د ښځو تعلیم له فحشا سره مقایسه کول او زده کړو ته تلل منکرات ګڼل افغان ملت او انسانیت ته لوی توهین دی. نوموړی دې له دې امله له ټول ملت څخه رسمي بخښنه وغواړي. ملت دې هم له مربوطو ادارو رسمي غوښتنه وکړي چې په نوموړی د قرآن

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه حکم پلی شي چې پر مومناتو او محصناتو مسلمانو میرمنو او نجونو د تهمت کوونکو لپاره ټاکل شوی دی.

■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■

❖ ښه انسان څوک دی؟

د دیندارانو په منځ کې د ښه انسان لومړی صفت دا دی چې خپل خالق ته تسلیم، د زړه لار یې د هغه پر لور صافه او نور انسانان یې د ژبې او لاس له ازاره خوندي یعنې سالم او په امن کې وي (مسلم، مومن، عابد). له دیني باور پرته هم انسان ښه کیدای شي او دا ډول ښه انسان هغه دی چې ټولنیز او طبیعي قوانین ومني او بل چا ته زیان ونه رسوي (قانون منونکی).

د ښه والي نورې عالي نښې دا دي چې هم پر دینباورانو او هم نورو کې دغسې انسانان شته:

له بل انسان سره مرسته، تعاون، صدقه او انفاق وکړي. (سخي)

عادل وي، د خپل دریځ، وس، توانمنیو او واک په پولو کې د اولاد، کورنۍ غړو، خپلوانو، وطنوالو او ټولو انسانانو په منځ کې عدالت وکړي. (عادل)

پر خپل ځان او خپلو کړنو دوامدار کنټرول ولري، د ځان او نورو حالت، احساسات، َعواطف، اړتیاوې توانمنۍ، فکر، ارادې او هیلې درک کړای شي او د هغو په رڼا کې ورسره چلند وکړي. (تقوا لرونکی)

له بل سره احسان وکړي، یعنې که چا ورسره ښه کړي وي او که نه، خو دی ورسره ښه وکړي. (محسن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سمندر په شان پراخه زړه ولري ، تعصب، کرکه، تبعیض، بدنیتي او تنګ نظري ونه لري. په هر انسان، حیوان، ژوندي موجود او شي د خیر نظر ولري.(بر، ابرار)

د ښه والي وروستۍ مرحله رشد دی، چې انسان د خپل پوټنشیل تر ټولو لوړې درجې ته ورسیږي او همدغه پاس ښه خویونه او عملونه په ځان کې وساتي. هم پرې باور ولري، هم یې نورو ته تلقین کړي او هم یې عملي کړي. (رشید)

یو بل عالي انساني صفت دا دی چې د نورو د خیر ښیګڼې لپاره له خپلو خوشالیو او حتی ژوند تېر شي او یا خپل امتیازات نورو ته وبښي. (ایثارګر)

راځئ موږ هر ځان وارزوو چې د کومې درجې په کومه سطحه کې یوو؟ او بیا دا پلټنه وکړو چې څنګه د ښه والي دغه ټول صفات په ځانونو کې پیدا کړو؟

ټولو ته تر ټولو ښې هیلې او پیرزوینې!

■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■ ■

❖ د ډي ان ای (DNA) عجایب او پرې د مثبت فکر اغیزې

تاسو د پنسل څوکه ښه تیره کړئ او پر کاغذ پرې یو داسې کوچنی ټکی جوړ کړئ چې که تر هغه کوچنی شي، په سترګو نه لیدل کیږي. دغسې لس کوچني ټکي یو ملي متر، سل یې یو سانتي متر، ۱۰۰۰ یې یو دیسي متر او لس زره یې یو متر کیږي. د دوی لیدل خو اسان دي. خو که دغه کوچنی ټکی ۱۰۰ زره چنده کوچنی کړئ یو نانو متر کیږي (نانو متر د ملي متر یو میلیونمه برخه ده).

(c) ketabton.com: The Digital Library

انساني ډی ان ای (DNA) بیا دوه نانو متره ده. یعنې تر ملي متر ۵۰ زره چنده کوچنۍ ده.

خو په دې کوچنۍ زره کې یو جهان پروت دی. دغه ذره چې له تر ټولو کوچني لیدونکي ټکي څخه ۵۰ زره چنده کوچنۍ ده، په ۲۳ جوړو (۴۶) کروموزونو کې غځیدلې ده چې که په یو مستقیم مسیر هواره شي، اوږدوالی یې دوه متره کیږي. د دې اوږدوالي پر مسیر له ۲۰ زره تر ۳۰ جنیونه د تسپو د دانو په شان منظم پراته دي چې د انسان ټول ارثي خواص له یوه نسل څخه بل نسل ته لیږدوي. جینونه په حقیقت کې نوکلیوټایډونه دي او له اډینین، ټایمین، سایتوسین او ګوانین څخه جوړ دي.

دا جینونه نور انعطاف هم لري. انساني ارثي خواص د جینونو په منځ کې د کوډونو په شکل ثبت دي. کوډونه په حقیقت کې د (Adenin, Guanin, cytosine and Tymin له نوکلیوټایډونو جوړ شوي دي چې ادینین او ګوانین پخپلو او سایتوسین او تایمین پخپلو کې وصلیږي چې Base pair جوړوي. هر جین تر یو میلیون بیس پایر جوړولي چې په دې حساب انساني جنیوم ۳ بیلیونه بیس پایرز لري. هر ۷۵۰Base pair بایټه معلومات ساتلی شي چې ټول ۷۵۰ میګابایټه کیږي. دا جینیټیک کوډونه دومره زیات دي چې که په کتابونو کې راټول شي نو داسې ۳۲۰۰ کتابونه ترې جوړیږي چې هر کتاب زر مخونه لري او په هر مخ کې ۱۰۰۰ کلیمې لیکل شوي وي. خو که دا سې معمول کتاب ترې ترتیب شي چې په هر مخ کې ۲۵۰ کلیمې او ټول کتاب ۲۵۰ مخونه و لري، بیا نو ۵۳ زره کتابونه کیږي، یعنې یو لوی کتابتون.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس یې نو دا حساب وکړئ چې پدې کوچنۍ دره کې څومره لویه نړۍ پرته ده!!!

دا کوچني جینونه د ځینو فکټورنو لکه ذهري موادو، شعاع او ویروسونو له امله کله کله تغییر کوي چې میوټیشن ورته وایي، خو د دې میوټیشن د اصلاح او رغیدو لپاره بیا بدن انزایمونه افرازوي چې دغه تخریبات بیرته رغوي. که د دغو فکټورونو خصوصاً شعاع ګانو شدت زیات وي نو تغییرات د بیرته راګرځیدو وړ نه وي او ناروغۍ ترې رامنځ ته کیږي چې نورو نسلونو ته هم انتقال کولی شي. همدا رنګه جینونه د انساني تکامل پر لور مثبت تغیرات هم کوي.

پخوانی نظر دا وو چې موږ د دغو جینونو محکوم یو او هر څه چې په دغو جینونو کې موږ ته په ارث رسیدلي دي، موږ پرې هیڅ کنټرول نه لرو او هیڅ تغییر پکې نه شو راوستی. خو اوس نوې نظریې منځ ته راغلي دي.

د بیولوژي پوهانو ثابته کړې ده چې محیط او د فکر ډول د جینونو پر فعالیت اغیز کوي او پکې د موجودو تحتاني خواصو د فعالیدو او یا غیر فعالیدو سبب کیږي.

نو د سالم محیط جوړولو، مثبت فکر کولو، ښو عادتونو خپلولو، ټینګ باور او دعا په نتیجه کې حتی د جینونو په سویه د انسان په بدن او شخصیت کې مثبت تغیرات راتلی شي.

د ژوند شرایط مو ښه کړئ، ورزش وکړئ، پوره او منظم خوب وکړئ، متوازن خواړه وخورئ، دعا او عبادت وکړئ او پر ځان باور او مثبت فکر وکړئ.

په دې سره به ستاسو ۹۰٪ ناروغۍ ښې شي او د ناروغیو په وړاندې به مو مقاومت څو برابره زیات شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

■■■■■■■■■■■■

### ❖معلومات، پوهه، کړنې، قابلیت او نتیجې

که موږ خبرشوو چې ورزش د بدن څواکمنۍ او ښکلا ته ګټه لري دا معلومات دي. که په علمي ډول پوه شوو چې څنګه د وینې او تنفس جریان ښه کوي، بدن ته په پوره اندازه د خوراکي او رغوونکیو موادو او اکسیجن د رسیدو سبب کیږي، دا پوهه یا علم شو. که مو کله کله ورزش وکړ، دا عمل دی. که په پوره منظم او تخنیکي ډول مو ورزش وکړ او ورزش مو په داسې دوامدار عادت بدل شو، چې د ذهنیت د بدلون سبب او سلوک برخه مو شوه، دا قابلیت دی. او کله چې مو بدن پیاوړی شو، ذهن مو ارام او شخصیت مو ورسره متوازن شو، دا د ورزش نتیجه ده.

همدا راز که د ښو او متوازنو خوړو له ګټو او د کارولو له طریقو خبر شوو، دا معلومات دي. که په علمي ډول پوه شوو چې د خوړو په کوم ګروپ کې د کومو ویټامینونو، منرالونو، پروټینو، غوړو او خوړو کوم ډول په څومره اندازه شته، دا علم دی. که متوازن او روغتیایي خواړه کله ناکله وخورو، دا عمل شو. که متوازن خواړه په داسې ډول وخورو چې عادت او د سلوک برخه مو شي، دا قابلیت دی. که بدن او ذهن مو ورسره پیاوړی، ښکلی او متوازن شو دا یې نتیجه ده.

په دیني او ټولنیزه برخه کې هم که پوه شو چې صدقه، انفاق او تعاون دیني وجیبه او ټولنیز مسؤولیت دی، دا معلومات دي. که پوه شو چې دا کړنې کومې فردي، ټولنیزې همداراز دنیاوي او اخروي ګټې لري دا پوهه شوه. که مو صدقه او تعاون په دوامدار ډول وکړ او داسې مو عادت شو چې د سلوک برخه مو شوه، دا قابلیت دی. که په ذهن او وجدان کې مو ارامي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوښي پیدا شوه، او یو معین شمېر همنوعان مو له لوړې او ستونزو بچ کړل، دا یې دنیاوي نتیجه ده. ژوره هیله شته چې الله تعالی به یې اخروي نتیجه راپه برخه کړي.

اوس د خپل ژوند ټول کارونه د نتیجو په تناظر کې وسنجوئ او وګورئ چې څومره باخبره خلک عالمان دي، څومره عالمان عمل کوي او بیا په عمل کې قابلیت لري او څومره قابل خلک د خپل قابلیت نتیجه اخلي.

که مو نیک اعمال نتیجه ورنکړي، نو معلومات د دغه مسیر لومړی ګام دی او یوازې کافي نه دي او دغه ټولې مرحلې باید تکمیل شي.

ځینې نیکمرغه استثنایي انسانان شته چې معلومات او علم یې کم خو عمل، قابلیت او نتیجې یې عالي دي.، البته عمومي مسیر همدا دی چې ذکر شو.

●●●●■ ■ ■ ■ ■

❖ ایا په بښېګڼه کې هم درجې شته؟

هو، بښېګڼه څو مرحلې لري:

لومړۍ مرحله: که څوک درسره بد وکړي او ته ورسره (د قانون د تطبیق له لارې) په هماغه اندازه بد وکړې دا عدالت دی.

دویمه مرحله: که یې وبخښې، خو زړه کې ترې خفه اوسې، دا عفوه او یوه درجه لوړه بښېګڼه ده.

درېیمه مرحله: که یې وبخښې او له زړه یې هم وباسې، دا لا اوچته بښېګڼه ده.

څلورمه مرحله: که پر دې سربېره ورته د مغفرت غوښتنه وکړې، یوه درجه مو بښېګڼه نوره هم لوړه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځمه مرحله: که له دې ټولو سره سره پرې رحم هم وکړې، مرسته ورسره وکړې، له لاسه یې ونیسې او سم مزل ته یې ورسوې دا د ښیګڼې عالي مرحله ده.

ځان او تاسو ټولو ته دغې وروستۍ مرحلې ته د رسېدو په هیله!

(c) ketabton.com: The Digital Library

په فیسبوک کې مو په لاندې ادرسونو موندلی شئ

Ibrahim Shinwari

اجمل هیوادمل

***End***

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**